د لوړو زده کړو وزارت
د ننګرهار پوهنتون
د حقوقو او سیاسي علومو پوهنځی
د قضاء او څارنوالی څانګه
د خصوصي حقوقو ډیپارتمنټ

# د اسلامي فقهې او د افغانستان حقوقو له نظره د مدني مرور زمان څرنګوالی

(د لیسانس دورې پایلیک)

Ketabton.com

ترتیب کوونکی: ضیاالرحمن (راسخ)
لارښود استاد: پوهنیار عبدالهادي (زماني)

کال ۱۴۰۰ هـ.ش

(c) ketabton.com: The Digital Library

بسم الله الرحمن الرحیم

(c) ketabton.com: The Digital Library

# مننلیک

ترټولو نه مخکې، په ډیرې عاجزي دکایناتو د سترڅښتن تعالی څخه د فضل اوکرم شکراداکوم چي هغه (ج )نه یوازې ددې لیکنې توفیق راکړی؛ بلکې زمادژوندیې د پیل څخه تردې دمه د ځانګړو انعاماتو او هوساینو څخه یې ډک کړی دی .وروسته د هغه الله (ج) غوره استازي محمدمصطفی(ص) اوهغه په اصحابوکراموچي د سرونوپه قیمت یې اسلام سپېڅلی دین بې زمونږ تر ټاټوبي رسولی دی، درودوایم .
همدارنګه، دخپل مهربان مرحوم نیکه (الله تعالی(ج ) د ورته جنت الفردوس په نصیب کړي)، مهربان پلاراو کاکا څخه د زړه له تله مننه او شکریه اداء کوم، چې زه یې همېش د تحصیل او تعلیم لپاره تشویق کړی یم او زما د ژوند ټولې اسانتیاوې یې راته پوره کړي دي . خدای (ج) دې دوئ ته اوږد عمر او په دواړو جهانونو کې خوشحالیانې او کامیابیانې په نصیب کړي.
همدارنګه، زه ددې مونوګراف د لیکلو اوترتیبولو له کبله، د خپل لاربنود ځوان، هڅاند او قدرمن استاد (ښاغلي پوهنیار عبدالهادي زماني )څخه هم یوه نړۍ مننه کوم، چې ماسره یې د ددغه مونوګراف په ترتیب او جوړښت کې پوره مرسته او همکاري وکړه او خپل علمي او مسلکي لارښوونې یې له ما څخه ونه سپمولې .ورسره یې، خپل ارزښتناک وخت یې هم ما ته وقف کړ، بشپړ علمي او لازمې لارښوونې یې راته وکړل .زه ورته د پاک خدای (ج) له دربار څخه د برکتونو، خوشحالیو ، بختور او بریاوو څخه ډک ژوند غوښتنه کوم .ټولوهغه ورونواوملګروته چی دتحصیل په دوران کې راته ګټوري لارښوونې کړي دي، زه یې تشویق کړی یم، مننه اوکورودانی وایم .په اخره کې، یوځل بیا هم ټولوته دذالجلال رب(ج) څخه ددواړوجهانونو خوښي ،کامیابي اونیکمرغي غواړم.

په درنښت

ضیاالرحمن راسخ

(c) ketabton.com: The Digital Library

# لنډيز

مرور زمان په لغوي لحاظ له دوو کلمو څخه جوړ شوی دی؛ چې مرور د تېریدو او زمان د وخت په معنی؛ یعنې د زمانې تېریدل، د وخت تېریدنه او په اصطلاح کې، مرور زمان ددعوې د سماعت د ممنوع کیدو نه عبارت دی؛ چې د یو خاص معلومې مودې پورې د څه شي په باره کې مطالبه ونه کړای شي، او هغه پرېښودل شي، بیا دعوی وکړي؛ نو دا دعوی به ناقابل سماعت وي. همدارنګه، د حقوقپوهانو له نظره، د قانون له ټاکل شوې مودې څخه عبارت دی چې، د قانون په موجب یې دعوی په محاکمو کې نه اوریدل کیږي. پورته تعریف ته په کتلو سره، د عمومي نظم، په محاکمو د قضایاو تراکم د مخنیوي، د حقوقي روابطو تثبیت، د خپل حق په مورد کې د مدعي بې پروایي او داسې نورو دلایلو ته په کتلو سره مدني مرور زمان قبول شوی دی. مدني موضوعاتو کې د مرور زمان په اړه هم اسلامی فقه او هم د افغانستان په مدني قانون کې مباحث شتون لري. چې په اسلامي فقه کې د حق په اصل باندې موثر مرور زمان نه دی قبول شوی، یعنې که یو شخص د محکمې په وړاندې په خپل حق اقرار وکړي، اقرار د قبول وړ ده. مګر د دعوی د حق ساقطوونکی مرور زمان د فقهاو د دلایلو او سلطان د حکم په اساس قبول شوی دی، چې موده یې عموما ۱۵ کاله ټاکل شوې ده. مګر، د ځانګړو موضوعاتو لپاره لکه: د وقف متولي دعوی لپاره ۳۶ کاله، د خاصې لارې، ارتفاق، او شرب حقونو لپاره ۱۵کاله د مرور زمان نېټه ټاکل شوې ده. همدارنګه، په عام المنفعه ملکیتونو پورې اړوند دعوی بیا د مرور زمان مشموله نه ګڼل کیږي.

د افغانستان مدني او تجارت قانون کې هم د مدني مرور زمان عمومي نېټه ۱۵کاله ټاکل شوې ده، مګر، ځانګړو مواردو لکه: استمراري، نوي کیدونکي حقوق لکه، دکورونو کرایه، د ځمکو اجاره، معاشونو، مالیاتو او محصولاتو په اړوند ۵ کاله، د بیمې قرار اړوند دوه(۲) کاله، استاذ، ډاکتر، مدافع وکیل، مهندس له دندې راپیدا شوو دعواو کې، او په کُلي ډول د هر هغه شخص چې ازاد کار او بار ولري لکه، درمل پلورنکی، دلال، کمېشن کار او نور...هغه پورې مربوط دعواوو کې یو کال د مرور زمان نېټه ټاکل شوې ده.

دغه څېړنه د کتابتوني مېتود څخه په استفادې سره، په توضیحي او تشریحي ډول تر سره شوې ده، او کوشش شوی دی چې، مدني مرور زمان چې په مدني محاکمو کې د نظم اود قضایاو د تراکم مخنیوي کوي، تر څېړنې لاندې ونیول شي او پدې اړوند د اسلامي فقهې او د افغانستان قوانینو نظریې مطالعه شي.

(c) ketabton.com: The Digital Library

# د موضوعاتو لړلیک

**سرلیک** **مخ**


سریزه ........................................ د

د څېړنې هدف ........................................ و

د څېړنې اهمیت ........................................ و

څېړنیزه تګلاره: ........................................ و

د څېړنې پوښتنې ........................................ ز

## لومړی څپرکی
## عمومي مفاهیم

لومړی مبحث: مرور زمان تعریف ........................................ 1

لومړی مطلب: د مرور زمان لغوي تعریف: ........................................ 1

لومړی جزء: د مرور اصطلاحي تعریف ........................................ 2

لومړی: د فقهې له نظره د مرور زمان اصطلاحي تعریف ........................................ 2

دویم: د حقوقپوهانو او قانون له نظره د مرور زمان اصطلاحي تعریف: ........................................ 2

دویم مبحث: د مرور زمان ډولونه ........................................ 3

لومړی جزء: مدني مرور زمان: ........................................ 3

دویم جزء: جزایي مرور زمان: ........................................ 3

دریم جزء: تجارتي مرور زمان: ........................................ 3

دریم مبحث: د مدني مرور زمان ډولونه ........................................ 4

لومړی مطلب: د حق په اصل باندې موثر مرور زمان ........................................ 4

دویم مطلب: د دعوی د اوریدلو مانع مرور زمان ........................................ 5

څلورم مبحث: د مدني مرور زمان د تحقق عامه شرایط ........................................ 6

لومړی جزء: عادي مرور زمان ........................................ 6

دویم جزء: اختصاصي( خاص) یا استثنایي مرور زمان ........................................ 7

پنځم مبحث: د مدني مرور زمان ذهني (عقلي) بنسټونه ........................................ 8

(c) ketabton.com: The Digital Library

## دویم څپرکی
## په اسلامي فقه کې د مدني مرور زمان څرنګوالی


لومړی مبحث: د حق په اصل باندې مرور زمان ........................ 10

دویم مبحث: ددعوی مسقط(ساقط کوونکی) مرور زمان ........................ 11

هغه عذرونه چې د هغوئ په موجودیت کې وروسته له ۱۵ کلونو هم دعوی اوریدل کیږي:.......... 12

لومړی مطلب: د وقف د متولي دعوی ........................ 14

دویم مطلب: د خاصې لارې دعوی ........................ 15

دریم مطلب: په مؤجل دین کې د دعوې اوریدل ........................ 16

څلورم مطلب: د کرایه دار د ملکیت دعوی ........................ 16

پنځم مطلب: د عام المنفع ملکیتونو پورې اړوند دعواوو مرور زمان ........................ 17


## دریم څپرکی
## د افغانستان په حقوقو کې د مدني مرور زمان څرنګوالی


لومړی مبحث: د افغانستان د مدني قانون له نظره د مرور زمان شرایط ........................ 18

لومړی شرط: حیازت باید مالکانه، مسالمت آمیز، علني، واضح او مستمر وي: ........................ 18

دویم شرط: ددعوی د اقامه کولو په اړه په معلومه موده کې له کوم شرعي عذر پرته د حق د مدعي چوپتیا:........................ 19

دریم شرط: د هغه کس لخوا قسم کول چې یو کلن مرور زمان کې د دعوی د حق په سقوط استناد کوي: ........................ 20

څلورم شرط: په عیني حقوقو او اموالو کې د حیازت کوونکي حسن نیت:........................ 20

پنځم شرط: د قانون ټاکلې مودې تېریدل ........................ 21

دویم مبحث: د مدني مرور زمان قلمرو ........................ 21

دریم مبحث: د مدني مرور زمان ټاکل شوې نېټه(مهلت) ........................ 22

لومړی مطلب: د مکسب مرور زمان مهلتونه یا ټاکلې نېټه (په عیان کې مرور زمان) ........................ 23

دویم مطلب: ددعوی د حق ساقطوونکی مرور زمان لپاره ټاکل نېټه ........................ 23

څلورم مبحث: د مدني مرور زمان د پیل نېټه........................ 27

(c) ketabton.com: The Digital Library

پنځم مبحث: د مدني مرور زمان د تعليق(ځنډيدو) عوامل.................................. 28
شپږم مبحث: د مدني مرور زمان د قطع کيدو عوامل ........................................ 28
اووم مبحث: د مدني مرور زمان اثار ........................................................ 30
وړانديزونه ................................................................................. 33
ماخذونه..................................................................................... 34

(c) ketabton.com: The Digital Library

# سریزه

**الحمد الله رب العالمین و العاقبة للمتقین الصلاة والسلام علی سید الانبیاء والمرسلین الذي بعث بالحق فارقابین الحق و الباطل و علی آله و صحبه و التابعین و علی کل من جاهد في سبیله الی یوم الدین.**

**امابعد:** لکه څرنګه چې د ملکیت لرل د انسان له اساسي حقوقو څخه ګڼل کیږي، چې دا حق په اسلامی شریعت ، ملي او بین المللي سطحه یو پیژندل شوی حق دی. نو کله چې یو څوک د خپل ملکیت څخه استفاده نه کوي، او بل څوک پکې پر له پسې او حسن نیت سره تصرف وکړي، او د معلومې مودې له تېریدو وروسته دملکیت اصلي مالک د حق په اړوند دعوی په محکمه کې نه اوریدل کیږي. نو همدې ته په کتلو سره، مرورزمان په لغت کې له دوو حرفونو څخه جوړ شوی دی؛ مرور د تېریدو او زمان د وخت په معنی دی. او په اصطلاح کې د مجلة الاحکام العدلیې له نظره، مرور زمان ددعوې د سماعت د ممنوع کیدو نه عبارت دی؛ چې د یو خاص معلومې مودې پورې د څه شي په باره کې مطالبه ونه کړای شي، او هغه پرېښودل شي، بیا دعوی وکړي؛ نو دا دعوی به ناقابل سماعت وي. همدرانګه، د افغانستان مدني قانون کې د مرور زمان لپاره تعریف شتون نلري، مګر حقوقپوهانو له نظره، د قانون له ټاکل شوې مودې څخه عبارت دی چې د قانون په موجب یې دعوی په محاکمو کې نه اوریدل کیږي.

مرور زمان په درې ډولونو، جزایي، مدني او تجارتي مرور زمان باندې ویشل شوی دی. همدارنګه د عامه والي او خاص والي له حېثه بیا په دوه عادي او اختصاصي مرور زمان باندې ویشل شوی دی.

مدني مرور زمان بیا عموما په دوه برخو د حق په اصل باندې موثر مرور زمان، او ددعوی مسقط (ساقطوونکی) مرور زمان باندې ویشل شوی دی. په اسلامي فقه کې د حنفي فقهاوو له نظره د حق په اصل باندې مؤثر مرور زمان نه دی قبول شوی، دوئ دا نظر لري چې، حق د وخت په تېریدو سره نه ساقطیږي. مګر، د دعوی ساقطوونکی مرور زمان بیا په حنفي فقه کې د فقهي دلایلو او د سلطان د حکم په اساس جایز ګڼلی دی.

د افغانستان مدني او تجارت قانون کې هم، مدني مرور زمان په تفصیل سره ذکر شوی دی، د یادو قوانینو له نظره هم مرور زمان د حق د ثبوت او یا سقوط باعث نه ګرځي، بلکې یوازې د دعوی داوریدلو د مخنیوي باعث شمېرل کیږي.

د پورته تشریحاتو ته په کتلو سره، په اسلامي فقه او د افغانستان په قوانینو کې د مدني مرور زمان لپاره ټاکلې نېټه وجود لري او کنه؟ او که شتون ولري نو دغه موده به څومره وي؟ ورسره، د مرور

(c) ketabton.com: The Digital Library

زمان منطق څه شی دی یعنې ولې مدني مرور زمان قبول شوی دی؟ او د مدني مرور زمان د تحقق عامه شرایط او د تحقق په وړاندې خنډونه، مدني مرور زمان اثار کوم دي؟

نو پورته ټول موضوعات، په دغه څېړنه کې څېړل شوي دي. ما دغه څېړنه په درې فصلونو ویشلې ده، چې لومړي فصل کې یې عمومي مفاهیم چې پکې د مرور زمان تعریف، شرایط، عقلي بنسټونه، او ډولونه، لدې وروسته، په دویم فصل کې بیا د اسلامي شریعت له نظره مدني مرور زمان او په دریم فصل کې بیا د افغانستان مدني او تجارت قوانینو له نظره مدني مرور زمان څېړل شوی دی. په اخره کې، بیا پایله او ماخذونه مې په ترتیب سره ذکر کړي دي.

**په درنښت**

**ضیاالرحمن ( رأسخ)**

(c) ketabton.com: The Digital Library

## د څېړنې هدف

دغه څېړنه لاندې په لاندې اهدافو باندې مشتمله ده:

1. په عمومي توګه د مرور زمان لا روښانتیا
2. د اسلامی فقې له نظره په مدني موضوعاتو کې د مرور زمان نېټې، ډولونو، شرایطو او خنډونو مشخصول.
3. د افغانستان مدني او تجارت قوانینو له نظره، د مدني مرور زمان نېټې، ډولونو، شرایطو، خنډونو، د مرور زمان قلمرو، د مرور زمان معلق کیدو او د مدني مرور زمان اثارو روښانه کول.
4. د عمومي نظم د ساتنې او په محاکمو د قضایاو د تراکم د مخنیوي په موخه، د حق مدعي ته په مدني موضوعاتو کې د مرور زمان توضیح کول.

## د څېړنې اهمیت

دا چې محاکمو کې د قضایاو د تراکم مخه ونیول شي، همدارنګه د حق مدعي ته دا واضحه شي، چې که په معلومه موده کې د خپل ملکیت د مطالبې لپاره دعوی ونه کړي، دعوی به یې باطله شي، همدارنګه، ددې لپاره په ټولنه کې عمومي نظم ټینګ او اشخاصو تر منځ د شخړو مخه ونیول شي، نو ځکه مرور زمان قبول شوی دی. او ما هم یاد دلایلو ته په کتلو سره دغه موضوع انتخاب کړه، تر څو مدني مرور زمان لا نور هم روښانه او توضیح شي.

## څېړنیزه تګلاره:

دغه څېړنه د دوکتوریني څېړنې اړوند په تحلیلي، توضیحي او کتابتوني مېتود سره تر سره شوې ده او ټول معلومات یې د بیلا بیلو موثقو ماخذونو لکه: مختلفو کتابونو، قوانینو، مقالو او انټرنیټي پاڼو څخه راخستل شوي دي. پدې څېړنه کې کوښښ شوی دی چې؛ مدني مرور زمان د فقهې او قوانینو له نظره لا ډیر روښانه او تحلیل شي.

(c) ketabton.com: The Digital Library

## د څېړنې پوښتنې

**اصلي پوښتنه:** اسلامي فقه او د افغانستان قوانین د مدني مرور زمان په اړوند څنګه صراحت لري؟

**فرعي پوښتنې:**

1. مدني مرور زمان څه ته وايي او په څو ډوله دی؟
2. مدني مرور زمان منطق څه شی دی؟
3. په اوسني عصر کې په عموم کې د مرور زمان ارزښت په څه کې دی؟
4. د دغه مرور زمان اثار به څه وي؟

(c) ketabton.com: The Digital Library

# لومړی څپرکی

## عمومي مفاهیم

ددې څپرکي په لومړي مبحث کې د مرور زمان تعریف، په دویم مبحث کې د مرور زمان ډولونه، په دریم مبحث کې د مدني مرور زمان ډولونه، په څلورم مبحث کې د مدني مرور زمان د تحقق عامه شرایط او په پنځم مبحث کې د مدني مرور زمان عقلي بنسټونه(منطق) تر بحث لاندې نیسم:

### لومړی مبحث: مرور زمان تعریف

مرور زمان په فقهه، علماوو او حقوقدانانو همدارنګه د قوانینو لخوا ورته مختلف تعریفونه شوي دي مګر د ټولو مفهوم یو ډول دی چې مونږ یې هر یو په لاندې ډول ذکر کوو:

#### لومړی مطلب: د مرور زمان لغوي تعریف:

مرور زمان په لغوي لحاظ له دوو کلمو څخه جوړ شوی دی؛ چې مرور د تېریدو او زمان د وخت په معنی؛ یعنې د زمانې تېریدل، د وخت تېریدنه.[1] همدارنګه په قرانکریم کې هم ددې زیاتې نمونې شتون لري: لکه الله (ج) فرمایي: «**وَيَصْنَعُ الْفُلْكَ وَكُلَّمَا مَرَّ عَلَيْهِ مَلَأٌ مِنْ قَوْمِهِ سَخِرُوا مِنْهُ قَالَ إِنْ تَسْخَرُوا مِنَّا فَإِنَّا نَسْخَرُ مِنْكُمْ كَمَا تَسْخَرُونَ**»[2] ژباړه: او جوړوله (نوح) بیړۍ حال دا چې کله تیریدله په ده ډله دقوم نو په نوح به یې مسخرې کولې. [3]په عربي ژبه کې د مرور زمان «تقادم» دی او کله ترې د «تقادم العهد»«تقادم الزمان»، «سبق الزمان» اصطلاحات هم تعبیر کیږي.[4] همدارنګه؛ د قانون د ټاکلې د مودې تیریدل دي چې له تیریدو وروسته یې دعوی نه اوریدل کیږي.[5]

---

[1] . د حقوقي اصطلاحاتو قاموس، د کابل پوهنتون. ص ۲۶۱.

[2] . قرانکریم، {سورة هود، ۳۸ ایت}.

[3] .کابلي تفسیر، {سورة هود، ۳۸ ایت}. لومړی جلد. ص ۱۲۴۰.

[4] . سید عبدالبصیر حسیني(۱۳۹۱هـ.ش). مدني مرور زمان د اسلامی فقهې او د افغانستان قوانینو له نظره، د عدالت مجلة، ۱۱۱ګنه، ص۶۳.

[5] . حسین عمید، فرهنګ عمید، اپلیکیشن.

(c) ketabton.com: The Digital Library

## لومړی جزء: د مرور اصطلاحي تعریف

د مرور زمان اصطلاحي تعریف په لومړیو کې فقهې او بیا د مختلفو هېوادونو د قوانینو له نظره ذکر کوم.

**لومړی: د فقهې له نظره د مرور زمان اصطلاحي تعریف:** د مجلة الاحکام العدلیې په شرحه کې کې مرور زمان په لاندې ډول تعریف کړی دی: ددعوې د سماعت د ممنوع کېدو نه عبارت دی؛ چې د یو خاص معلومې مودې پورې د څه شي په باره کې مطالبه ونه کړای شي، او هغه پرېښودل شي، بیا دعوی وکړي؛ نو دا دعوی به ناقابل سماعت وي[6].

## دویم: د حقوقپوهانو او قانون له نظره د مرور زمان اصطلاحي تعریف:

د فرانسې مدني قانون ۲۲۱۹ماده کې مرور زمان په لاندې ډول شوی دی: « مرور زمان عبارت د تملک یا د ذمې برأت له وسیلې څخه چې د یو ټاکلي وخت او شرایطو په تیریدو سره چې قانون ټاکلي او مشخص کړي وي. [7] همدارنګه د ایران پخواني مدني محاکماتو اصولو قانون ۷۳۱ ماده کې مرور زمان داسې تعریف شوی دی: « مرور زمان د وخت له تېریدو څخه عبارت دی؛ چې د قانون په موجب وروسته د تېریدو څخه دعوی نه اوریدل کیږي».[8]

او یا په بل عبارت؛ د قانون له ټاکل شوې مودې څخه عبارت دی چې، د قانون په موجب یې دعوی په محاکمو کې نه اوریدل کیږي.[9] په نتیجه کې، په مفصل ډول داسې ویلې شو چې، مرور زمان هغه دی چې، د یو حق غوښتلو لپاره قانون ځانګړی وخت ټاکلی وي، که چیرې د حق مدعي په خپل تعین شوي وخت کې دعوی ونه کړه؛ نو د نوموړي دعوی د مرور زمان لاندې راځي او دحق ددفع لپاره یو سبب شمېرل کیږي، خو د تملیک سبب ندی. [10]

لدې سره سره، پوهاند دوکتور حفیظ الله دانش په خپل کتاب د وجایبو حقوقو کې د مرور زمان په اړوند داسې وايي: « که چیرې مدیون په ټاکلي وخت کې خپله وجیبه تر سره نکړي داین کولی شي چې دیوې ټاکلې مودې په ترڅ کې چې د قانون لخوا؛ د هغې وړاندوینه شوې وي، محکمې ته پدې موخه مراجعه وکړي، چې مدیون د خپلې وجیبې په سرته رسولو یا د تاوان په جبران اړ کړي. پرته لدې ددې

[6] . سلیم رستم باز لبناني(۲۰۱۶م). توضیح المرام پښتو شرح د مجلة الاحکام، ژباړن: مولانا برهان الدین صدیقي، پشارو، جدید مکتبه رشیدیة، ج ۴، ص ۱۹۰.

[7]. "Prescription is means of acquisition or of exoneration by a certain lapse of time, and subject to condition determined by the law". French, Civil Code (1827). Art: 2219.

[8] . (۴) ګڼه لمنلیک ته د مراجعه وشي. سید عبدالبصیر حسیني ص۶۳.

[9] . شمس الاسلام شمس صافی(۱۳۹۹ هـ.ش). د مدني محاکماتو اصول، جلال اباد، مسلم خپرندویه ټولنه، م ۲۶۸.

[10] . شمس الاسلام شمس صافی(۱۳۹۰هـ.ش). د عدلي او قضایي اجرءاتو لارښود، جلال اباد، مسلم خپرندویه ټولنه، م ۱۳۱.

(c) ketabton.com: The Digital Library

ټاکلې مودې له تېریدو وروسته موضوع د زمانې د مرور یا تېریدنې لاندې راځي او د مدیون تعاقدي دنده له منځه ځي».[11]

## دویم مبحث: د مرور زمان ډولونه

مرور زمان ډېر ډولونه لري؛ مګر عموما مرور زمان په درې برخو باندې ویشل شوی دی:

**لومړی جزء: مدني مرور زمان**: دا هغه دی چې په مدني برخه کې وي او موضوعات یې په مدني برخې پورې اړه لري. چې زما د بحث اصلي موضوع هم همدا برخه جوړوي، چې تشریح به یې وروسته راشي.

**دویم جزء: جزایي مرور زمان:** د المبسوط د حقوقو په ترمینولوژۍ کې د جزایي مرور زمان په اړه داسې راغلي دي: جزایي مرور زمان په دوه ډوله دی ۱ـ د جرم مرور زمان ۲ـ د جزا مرور زمان

**لومړی: د جرم مرور زمان:** د جرم رامنځته کیدو وروسته د هغه مودې تېریدل دي چې باید په هغه موده کې مجرم د تعقیب لاندې ونیول شي مګر د دې نېټې له تیریدو وروسته تر تعقیب لاندې نه نیول کیږي.

**دویم: د مجازاتو مرور زمان:** د مجازات د حکم له صدور څخه راپېدې خوا د مودې تېریدل دي چې په هغه وخت کې ذکر شوی حکم اجرا شوی نه وي، او د نېټې له تیریدو وروسته حکم نه اجراء کیږي. [12]د افغانستان په قوانینو کې د جزایي مرور زمان لپاره کوم خاص تعریف شتون نلري؛ مګر حقوقپوهانو د هغه تعریف په لاندې ډول کړی دی: «مرور زمان د مودې له تېریدو څخه عبارت دی چې د قانون په موجب د هغه له تیریدو وروسته، د جرم تعقیب او یا هم د جزایي حکم اجراء موقوف کیږي. یا په بل عبارت د مودې تیریدل چې قانونا د هغه له تېریدو څخه وروسته تعقیب، د حکم صادریدل او د مجازاتو اجراء منع ده.[13] او په عربي کې ورته تقادم وایي.

او کله ورڅخه د تقادم العهد، تقادم الزمان الجزایي، سبق الزمان معناوې افاده کوي.[14]

## دریم جزء: تجارتي مرور زمان:

هغه مرور زمان ده چې په بنسټ یې یوه تجارتي دعوی وروسته د یوې ټاکلې مودې له تېریدو څخه، چې پرته له کوم موجه عذر څخه د مطالبې څخه لاس پر سر شي، دعوی نه اوریدل کیږي.  په تجارتي

---

[11] . حفیظ الله دانش(۱۳۹۶هـ.ش). د وجایبو حقوق، کابل، مستقبل خپرندویه ټولنه، م ۱۳۴.
[12] . محمد جعفر حعفري لنګرودی(۱۳۸۱هـ. ش). مبسوط در ترمینولوژي حقوق، تهران. کتابخانه گنج دانش، ج ۵، ص ۲۳۱۵.
[13] . (۴) ګڼه لمنلیک ته دې مراجعه وشي. سیدعبدالبصیر حسیني، ص ۵.
[14] . شمس الدین السرخسي(۱۴۰۶هـ). الاصول السرخسي، ج ۹، ص ۴۹.

(c) ketabton.com: The Digital Library

دعوی کې مرور زمان دغه موده متفاوته ده. مثلا: د برات او چک په دعواوو کې د مرور زمان په اړه د افغانستان د تجارت اصولنامې ۵۳۸[15] ماده کې داسې راغي دي: « ټولې هغه دعواوې چې په قبلوونکي باندې د برأت له لارې پيدا کيږي د مودې د رسيدلو له نېټې څخه وروسته له درې کالو تېريدو څخه ساقطيږي. هغه دعوی ګانې چې حامل يې په (ظهر نوسانو) او صادرونکي باندې وکړي او دهغه اعتراض له نېټې څخه چې په خپل وخت ليکلی شوی وي (او که په سند کې د بې لګښته اعادې شرط موجود وي د مودې تېريدلو له نېټې څخه) يو کال په تېريدو ساقطيږي. همدارنګه، هغه دعوی چې ظهر نويس يې يو پربل او يا په صادروونکي وکوي، د ظهرنويس له خوا د برأت د ورکړې له نېټې څخه چې په خپله په دوئ باندې دعوی شوې وي، د ۶ مياشتو په تېريدو سره ساقطيږي.» [16]

## دريم مبحث: د مدني مرور زمان ډولونه

مدني مرور زمان عموما په دوه ډولونو ويشل شوی دی: ۱ـ د حق په اصل باندې موثر مرور زمان ۲ـ ددعوی د اوريدلو مرور زمان[17]

## لومړی مطلب: د حق په اصل باندې موثر مرور زمان

د بعضو هېوادونو لکه: انګلستان، فرانسه او مصر په حقوقي نظامونو کې مرور زمان د حق په اصل باندې موثر او تاثير لرونکی دی؛ او د حق د سقوط يا ثبوت موجب ګرځي. پدغه ډول، هېوادونو کې مدني مرور زمان په لاندې برخو ويشل شوی دی:

**لومړی جزء: مسقط [18] مرور زمان:** هغه مرور زمان دی چې، د سکوت په وجه په معينه موده کې د حق د ساقطيدو موجب ګرځي. او يا هم په بل عبارت، د متعهد شخص د ذمې برائت او دتعهد له سقوط څخه عبارت دی. لکه: څنګه چې د فرانسې مدني قانون ۱۲۳۴ ماده، او د مصر مدني قانون ۳۷۴ماده[19] کې مرور زمان د تعهد د سقوط سبب ګڼلی دی. [20]

---

[15] . د افغانستان اسلامي جمهوريت د تجارت اصولنامه(۱۳۶۷ هـ.ش). رسمي جريده ۶۷۶، ماده ۵۳۸.

[16] . نصر الله ستانکزی، شيرعلي امن، ولي محمد ناصح(۱۳۸۸ هـ.ش). اصول محاکمات تجارتي، مطبعه طباعتي حبيب الله حسيب، کابل، م ۱۴۱.

[17] . هماغه، سيد عبدالبصير حسيني، ص ۶۵ـ ۶۶.

[18] . مسقط، يعني ساقط کوونکی.

[19] . ۳ –التقادم المسقط: يتقادم الالتزام بانقضاء خمس عشرة سنة فيما عدا الحالات التي ورد عنها نص خاص في القانون (د مصر مدني قانون، ۳۷۴ ماده، د لاسرسي لينک: http://arbooks.tk

[20] . هماغه، سيدعبدالبصير حسيني.

(c) ketabton.com: The Digital Library

همدارنګه، دغه مرور زمان د حق خاوند د حق یا ملکیت له منځه تللو څخه عبارت دی چې، د حق خاوند د هغه د تر لاسه کولو او استعمالولو لپاره په معینه موده کې چوپتیا اختیاره کړي وي یعنې دغه مرور زمان د حق له منځه تللو څخه عبارت دی. [21]

**دویم مطلب: مملک یا مکسب مرور زمان:** د متصرف لپاره د مالکیت د کسب وسیله د هغه مال نسبت ته ده چې په اصل کې، د بل چا سره تعلق ولري او په معینه موده کې د مطالبې او یا هم لاسته راوړلو کوشش نه وي کړای. د فرانسې مدني قانون ۷۱۲ مادې [22] مرور زمان د ملکیت د کسب یو سبب شمېرلی دی.

دغه مرور زمان د ملکیت د کسب وسیله ده چې متصرف، د بل ملکیت یا عیني حق چې دهغه په تصرف کې دی چې د معینې مودې له تېریدو وروسته ددایمي تصرف له امله کسب کوي. [23]

## دویم مطلب: د دعوی د اوریدلو مانع مرور زمان

په بعضو هېوادنو کې، مدني مرور زمان یوازې ددعوی د حق د سقوط او عدم اوریدلو موجب ګرځي. او د حق په اصل باندې تاثیر نلري. د مجلة الاحکام العدلیة ۱۶۷۴ ماد کې راغلي دي چې، « حق د زمانې په تېریدنې سره نه ساقط کیږي». [24] همدرانګه، د افغانستان مدني قانون ۹۶۵ ماده کې هم راغلي دي چې « (۱) حق د زمانې په تېریدو سره پای ته نه رسیږي.»[25]

مرور زمان په اموالو او عیني حقوقو کې د مصر مدني قانون په پیروۍ سره د حیازت په برخه کې مطرح شوې دی، یوازې د ذوالیدي مالکیت، او د یوې معینې نېټې څخه وروسته په هغه باندې د دعوی د اوریدلو منع؛ د دلیل په توګه دی. مرور زمان د مالکیت او ملکیت د کسب(لاسته راوړلو) سبب ندی؛ د مالکیت د کسب حقیقي سبب حیازت دی، او دا حیازت د ۱۵-۳۳ کلونو په تیریدو وروسته د حیازت کوونکي باندې ددعوی د اوریدلو مانع ګڼل کیږي؛ ځکه حیازت، د افغانستان مدني قانون څلورمه برخه، دویم فصل کې د «ملکیت د لاسته راوړلو اسبابو» په برخه کې راغلی دی. [26]

---

[21] . داکتر سهند صادقي، داکتر حسین صابري، کریم عبدالحی نژاد(۱۳۹۷هـ.ش). راویې اسقاط حق دعوی، فقه و اصول، (۱) ګڼه، ص ۴.

[22] . (Ownership is also acquired by accession or incorporation, and by prescription.) (French, civil code (1827). Art 712.

[23] . هماغه، داکتر سهند صادقي، داکتر حسین صابري، کریم عبدالحی نژاد، ص ۴.

[24] . (۶) ګڼه لمنلیک ته دې مراجعه وشي. سلیم رستم باز، ج۴ ، ص ۲۰۷.

[25] . د افغانستان اسلامي جمهوریت مدني قانون(۱۳۵۵هـ.ش). رسمي جریده ۳۵۳، ۲ ج، ۹۶۵ ماده.

[26] . (۴) ګڼه لمنلیک ته دې مراجعه وشي. سیدعبدالبصیر حسیني ، ص ۶۶.

(c) ketabton.com: The Digital Library

## شلورم مبحث: د مدني مرور زمان د تحقق عامه شرایط

پورته تعریفونو ته په کتلو سره، د مدني مرور زمان لپاره درې اساسي شرطونه لازم دي:
**لومړی شرط: مالکانه، مسالمت امیز، دوامداره او علني تصرف:** د فرانسې مدني قانون ۲۲۲۹ مادې مطابق« هغه کس چې غواړي، د مرور زمان څخه استفاده وکړي باید؛ دوامداره، غیر منقطع، مسالمت امیزه، ښکاره، عمومي او مالکانه تصرف باید په ملکیت باندې ولري.»[27]
**دویم شرط: د حق د مدعي سکوت:** د مدیون په مقابل کې د دائن سکوت او دخپل حق نه غوښتل او یا هم د متصرف په وړاندې د عین مالک چوپتیا، او د ځانګړي وخت تېریدل د مرور زمان د تحقق د اساسي شرایطو له جملې څخه دی.[28] د فرانسې مدنی قانون ۲۲۲۴ ماده او دافغانستان مدني ۹۷۷ مادې مطابق قضایي غوښتنه حتی په غیر اختصاصي محکمه کې هم شوي وي، د مرور زمان د انقطاع موجب ګرځي.[29]
**دریم شرط: د قانون ځانګړې نېټې تېریدل:** د مرور زمان لپاره په ټولو قوانینو او ټولو مواردو کې یو شان وخت ندی ټاکل شوی؛ بلکې مختلفو قوانینو کې مختلف وختونه ورته ټاکل شوي دي.
د مختلفو هېوادونو په قوانینو کې معمولا یو اصلي موده وجود لري چې په کُلي توګه هغه مواردو باندې چې قانون پکې سکوت اختیار کړی وي، پلی کیږي. مګر په خاصو مواردو کې خاص یا ځانګړې مهلتونه ټاکل کیږي، چې د معمولي مواردو سره توپیر لري.[30] نو ځکه د عادي والي او مخصوص والي له حیثه مدني مرور زمان په دوه برخو ویشل شوی دی:

### لومړی جزء: عادي مرور زمان

د فرانسې په حقوقو کې ۳۰ کاله د عادي مرور زمان لپاره وخت ټاکل شوی دی یعنې دا عادي مرور زمان ګڼل کیږي. ددغه هېواد په قانون کې ټول هغه دعواوې چې د سوء نیت پر بنسټ تصاحب وي او یا هم نه وي؛ نو ۳۰ کاله وروسته د مرور زمان کې شاملې ګڼل کیږي.[31]مګر د حسن نیت پر بنسټ د غیر منقول اموالو تصاحب؛ په هغه صورت کې چې د مال اصلي مالک د هغه محکمې په حوزه کې

---

[27]. (In order to be allowed to prescribe, one must have a continuous and uninterrupted, peaceful, public and unequivocal possession, and in the capacity of an owner). (French, Civil Code (1827)) . Art 2229.

[28] . هماغه، سید عبدالبصیر حسیني، ص ۶۷.
[29] . هماغه، د افغانستان مدني قانون، ۲ج ۹۷۷ ماده.
[30] . هماغه، سیدعبدالبصیر حسینی، م ۶۷.
[31] . هماغه، م ۶۸.

(c) ketabton.com: The Digital Library

چې مال د هغه په حوزه کې واقع وي او يا سکونت ولري، د مرور زمان موده ۱۰ کاله، او هغه صورت کې چې ددغه محکمې له حوزې څخه بيرون وي؛ ۲۰ کاله د مرور زمان موده تعين شوی دی.[32]
د مصر مدني قانون ۳۷۴ ماده[33] د مجلة الاحکام ۱۶۶۰ ماده[34] او د افغانستان مدني قانون ۹۶۵ او ۲۲۷۹مادو کې دغه موده ۱۵ کاله تعين شوې ده.[35]

## دويم جزء: اختصاصي( خاص) يا استثنايي مرور زمان

د مختلفو هېوادونو په قوانينو کې د مرور زمان لپاره استثنايي موارد هم شتون لري، چې د عادي مرور زمان سره د مبنی او وخت له حيثه توپير لري. دا لنډ وخت د دين د ورکړې سبب ګرځي.[36]
د عربي هېوادونو په قوانينو کې معمولا دوه ډوله مرور زمان شتون لري:
**لومړی: طولاني مرور زمان:** چې دهغه موده ۱۵ کاله ده او د هغه تحقق لپاره فقط قانونی حيازت او ددغه مودې تېريدل لازمي دي.
**دويم: لنډ مهال مرور زمان:** چې د هغه وخت متفاوت دی. مګر غالبا ۵ کاله دی نو ځکه ورته « التقادم الخمسی» وايي. او ددغه مرور زمان د تحقق لپاره د مودې تېريدلو او حيازت علاوه، د حيازت کوونکي حسن نيت او د صحيح سبب باندې مستند حيازت شرط ګڼل کيږي. [37]
په انګلستان کې ۱۸۳۲ م کال د مرور زمان د قانون مطابق، چې د مملک د مرور زمان بيان کوونکی دی، د مشاع اموالو او نورو منافعو اړوند ۳۰ـ۶۰ کاله مرور زمان او د ارتفاق حقوقو لپاره ۲۰– ۴۰ کاله، د استفادې حق لپاره ۲۰ کاله موده تعين کړې ده. د ۱۹۸۰ م کال مرور زمان قانون مطابق، چې مسقط مرور زمان پورې مربوط کيږي او د مرور زمان په اثر ددعواوو په سقوط باندې تاکيد کوي؛ د مرور زمان مهلت په مختلفو دعواوو کې متفاوت دی او ظاهرا کُلي حکم په دې اړه شتون نلري؛ مثلا:

---

[32]. «A person who acquires an immovable in good faith and under a just title prescribes ownership of it by ten years, where the true owner lives on the territory of the court of appeal within whose limits the immovable is situated; and by twenty years, where he is domiciled outside of the said territory. (French, Civil Code (1867)) . Art 2265.

[33] . مادة ٣٧٤: يتقادم الالتزام بانقضاء خمس عشرة سنة فيما عدا الحالات التي ورد عنها نص خاص في القانون.( القانون المدني المصري (١٩٤٨م).

[34] . لا تسمع دعوى الدين والوديعة، والملك، والعقار، والميراث وما لا يعود من الدعاوي إلى العامة ولا إلى أصل الوقف في العقارات الموقوفة كدعوى المقاطعة أو التصرف بالإجارتين والتولية المشروطة والغلة بعد أن تركت خمس عشرة سنة. (المادة ١٦٦٠ المجلة الاحکام العدلية).

[35] . هماغه، سيدعبدالبصير حسينی، م ۶۸.

[36] . هماغه، م ۶۸.

[37] . هماغه، م ۶۸.

(c) ketabton.com: The Digital Library

د ځمکې مربوط دعوی کې مرور زمان ۱۲ کالو تېرېدو وروسته، د معمولي قراردادونو مربوط[38] او نيمه جرمونو[39] او د دعوی د خسارې جبران د ۳ کالو په تېرېدو سره محقق کيږي.[40]

## پنځم مبحث: د مدني مرور زمان ذهني (عقلي) بنسټونه

دا چې ولې مرور زمان ولې منل شوی دی، کوم عقلي بنسټونه دي چې پر اساس يې مرور زمان قبول شوی دی؛ نو ددې لپاره پوهانو ځينې عوامل ذکر کړي دي چې په لاندې ډول دي:

1. **دعمومي نظم ساتنه او د حقوقي روابطو تثبيت:** د مرور زمان مهمترين مبنی په ځانګړې توګه د دعوی د اوريدلو مرور زمان، د عمومي نظم ساتنه او د اشخاصو حقوقي روابطو تثبيت دی. عمومي نظم ددې ايجاب کوي چې، هر کله د يو حق خاوند په معينه موده کې په خپل اختيار کې خپل حق د نورو تر تصرف لاندې پريږدي، او د هغه تر لاسه کولو اقدام ونه کړي، نومحکمه نشي کولی ددغه وخت له تېرېدو وروسته ددغه دعوی ته د رسيده ګي او د حق د استرداد لپاره حکم وارد کړي. ځکه هغه دعواوو ته رسيده ګي چې ډېر وخت پرې تېر شوی وي شايد په محاکمو کې ددعواو د تراکم او د قضايي نظام د اختلال سبب وګرځي.[41]

همدارنګه، په کيفي لحاظ قضايي تشکيلات پخوانيو دلايلو او د کمزورې رسيده ګۍ باندې ګرفتاروي. د مرور زمان په نه قبلولو سره قضايي امنيت په خطر کې لوييږي. ورسره، د معاملې لوري به همېشه ددعوی طرحې ته چې د مقابل لوري لخوا وي؛ خپل اسناد او مدارک تيار وساتي، چې معلومه نده، چې دعوی به پرې وکړي او کنه؟ مثلا: مستاجر چې اجاره بها يې په لاس کې سند مطابق يې ورکړی وي، بايد دغه قبوض(سندونه) چې د ذمې برائت لپاره مدرک شميرل کيږي بايد همېش لپاره وساتي او د فوت کيدو په وخت کې يې بايد ورثه وو ته هم وسپاري. که چېرې مثلا ۴۰ کاله وروسته مؤجر يا ورثه يې قصدا يا اشتباها د اجورې د تر لاسه کولو لپاره راغلل، نو هغه به

[38]. Simple Contracts (a simple contract is a contract made orally or in writing or both of them rather then a contract made under seal).

[39]. Torts (is common law jurisdiction, is a civil wrong that causes a claimant to suffer loss or harm, resulting in legal liability for the person who commits the tortious act.)

[40] . هماغه، سيدعبدالبصير حسيني، م ۶۹.

[41] . هماغه، ص ۶۹.

(c) ketabton.com: The Digital Library

وکولای شي چې په محکمه کې د ذمې برائت د ثبوت لپاره ورڅخه استفاده وکړي. چې دا په خپله په محاکمو کې د قضایاو تراکم او قضایي امینت خطر سره مخ کولو باعث ګرځي.[42]

2. **د دین اسقاط یا ورکول:** د حق غوښتونکي بې اعتنایي په معینه موده کې دغه فرض په ذهن کې رامنځته کوي، چې په یو شکل یا طریقې سره خپل حق ته رسیدلي دی او که ترې صرف نظر کړی دی. چې محکمې هم د فرانسې په حقوقو کې په دې اړه وویل شول، دغه ګمان په حقوقو کې د مرور زمان اصلي مبنی دی. چې په لنډ وخت کې په نوعي ډول پرداخت کیږي لکه: د معلم معاش، یا د مسافرخانې اجاره او نور...[43]

3. **په دعواوو کې د واقعیتونو د کشف ته امکان برابرول:** په ضعیفو دعواوو کې شاهدانو ته لاسرسی ضعیف کیږي؛ ځکه شاهدان په خپاره شوي شکل ګرځي، چې احوال او اوضاع یې له یاده وځي، اسناد او رسیدات هم د حادثو په اثر له منځه ځي. قاضي ناچاره دی چې، ظاهري احکامو ته توجو وکړي، او کُلي اصول لکه: استصحاب او دعدم اصل، اصول د حقیقت ځایناستي و ګرځوي. مرور زمان یو تدبیر دی چې قانون جوړونکي د واقعیتونو بهترین کشف ته فکرمند شوی او پدې صورت کې مدعي ملزم کوي، چې تر څو اسناد او مدارک له منځه نه وي تللي همدارنګه شاهدان له لاسه ونه وځي او اوضاع او احوال ګډوډ شوي نه وي خپله ادعا په صالحه محکمه کې مطرح کړي.[44]

4. **د حق څخه د اعراض نښه:** یو شخص چې د امکاناتو په شتون سره سره؛ په یوه معینه موده کې دغوښتنې په مقام (محکمه) کې د خپل حق د غوښتنې لپاره رانشي، معمولا یې له خپل حق څخه اعراض کړی وي، او اعراض یوه ایقاع[45] ده چې په لازمي ډول د حق او د تعهد د سقوط موجب ګرځي. د حق خاوند نشي کولی د معین وخت له تېریدو وروسته متعهد خپل تعهد د ترسره کولو لپاره ملزم کړي.[46]

دغه اړین بنسټونه او دلایل دي چې د مدني مرور زمان د مقرراتو د توجیه لپاره استدلال وکړي، په ځانګړي توګه دعمومي نظم ساتنه چې د مدني مرور زمان د قبولولو اصلي بنسټ او دلیل ګڼل کیږي.

---

42. هماغه، م ۷۰.
43. هماغه، م ۷۰.
44. هماغه. سیدعبدالبصیر حسیني، م ۷۰.
45. ایقاع ( یوه عربي کلمه ده چې له وقع څخه اخستل شوې په جنګ اچولو، پېښېدلو او په مهلکه اچولو په معنی سره دی. او په اصطلاح کې د هغه یو اړخیز حقوقي عمل څخه عبارت دی، چې د یوې ارادې په اظهارولو سره د حقوقي نتیجې د رامنځته کېدلو باعث شي. د مثال په توګه: وقف، ابراء وصیت او هبه او نور...). (شریف الله امین(۱۳۹۷هـ.ش). د وجایبو حقوق، مسلم خپرندویه ټولنه، جلال اباد، ص ۱۵.)
46. هماغه، سیدعبدالبصیر حسیني، م ۷۱.

(c) ketabton.com: The Digital Library

# دویم څپرکی

## په اسلامي فقه کې د مدني مرور زمان څرنګوالی

ددغه څپرکي په لومړی مبحث کې د حق په اصل باندې مرور زمان، دویم مبحث کې د دعوی د اوریدلو مسقط مرور زمان او لکه څنګه، چې مخکې ورته اشاره وشوه، دوه ډوله مدني مرور زمان شتون لري: ۱ـ د حق په اصل باندې مرور زمان ۲ـ ددعوی د اوریدو مانع مرور زمان نو زه هم دغه ډولونه د حنفي فقهې له نظره تر بحث لاندې نیسم.

### لومړی مبحث: د حق په اصل باندې مرور زمان

حنفي فقها پدې نظر دي چې حق د مرور زمان په اثر نه باطلیږي، نو څکه که چیرې مدعي علیه د مرور زمان وروسته په حق باندې اقرار وکړي؛ اقرار یې صحیح دی او اوریدل کیږي.[47]

پدې اړه مجلة الاحکام العدلیې په ۱۶۴۷ ماده کې داسې راغلي دي: « **لا یسقط الحق بتقادم الزمن بناء علیه ادا أقر واعترف المدعي علیه صراحة فی الحضور القاضي بأن للمدعی عنده حقا فی الحال فی دعوی وجد فیها مرور الزمن بالوجه الذی ادعا المدعی فلا یعتبر مرور الزمن ویحکم وبموجب اقرار المدعي علیه.** »

**ددې مادې وضاحت:** پدې ماده کې ددې خبرې وضاحت دی چې، ددعوی اوریدل په مرور زمان سره متاثر کېدای شي. مګر حق پرې نه ساقطیږي، نو مال د څښتن مالکیت هم نه ساقطیږي. څکه که مدعي علیه ددې خبرې اقرار وکړي چې اګر چې یې دعوی ناوخته کړې ده؛ خو حق د هغه دی او د حکم یا قاضي په مجلس کې ددې خبرې اقرار وکړي؛ نو د وخت له تېریدني(مرور زمان) سره سره، هغه ته خپل حق ورکول کیږي. په نتیجه کې د مدعي علیه د اقرار له وجهې د هغه په حق کې فیصله کیږي.[48] او ددې مادې په دوام کې بیا داسې راځي: « **و أما اذالم یقر المدعي علیه فی حضور القاضی و ادعی المدعی بکونه أقر فی محل آخر فکما لا تسمع دعواه الاصلیة کذلک لا تسمع دعوی الاقرار.** » په پاتې ماده کې ماقبل عبارت ته په کتلو سره داسې راغلي دی: « که مدعي علیه د حاکم په مجلس کې

---

[47] .(۴) ګڼه لمنلیک ته دې مراجعه وشي. سیدعبدالبصیر حسیني، م ۷۱.

[48] . (۶) ګڼه لمنلیک ته دې مراجعه وشي. سلیم رستم باز، ج ۴، م ۲۰۸.

(c) ketabton.com: The Digital Library

اقرار ونکړي بلکې مدعي دعوه وکړي، چې مدعي علیه بل ځای کې اقرار کړی وو؛ نو څنګه چې د اصلي دعوې سماع ناقابل قبول ده همدغه شان به د اقرار دعوه هم قابل د قبول نه وي.»[49]

نو پورته شرحې ته په کتلو سره ویلی شو چې مرور زمان سره اصلا حق پای ته نه رسیږي؛ نو د مرور زمان دغه ډول په حنفي فقهه کې مردود دی.

همدارنګه فقهاء وو په نظر مرور زمان د تملیک د سببونو څخه نه دی، بلکې د تملیک اسباب، میراث، بیع، اخیستل او خرڅول، حیازت او هبه ده، که چیرې یو شخص په یو ملکیت باندې داسې تصرف وکړي؛ چې مرور زمان پکې مطرح شي، نو د مرور زمان دفعه هغه وخت اعتبار لري چې تصرف کوونکی شخص د اصلي مالک په خبر په نوموړي ملکیت کې په خپلواکه توګه تصرف وکړي. [50]

## دویم مبحث: ددعوی مسقط (ساقط کوونکی) مرور زمان

دغه مرور زمان په ځانګړي توګه ددعوی د اوریدولو مانع مرور زمان په حنفي فقهه کې قبول شوی دی.

د مبنی له حېثه په حنفي فقهه کې دوه ډوله مرور زمان شتون لري:

الف: **د فقهاوو په اجتهاد او فقهي دلایلو ولاړ مرور زمان:** د حنفي فقهې د علماوو د فتاواو په اساس په کُلي ډول، دعواوې د وخت په تېریدو سره نه اوریدل کیږي. نو په دغه حکم کې د نظر اتفاق دی. مګر د مودې په اړه یې څو نظریات موجود دي. ۳۳کاله، ۳۶ کاله او یا هم ۳۰ کاله ورته ټاکل شوي دي. [51]

ابن عابدین ددغو اقوالو له یادولو وروسته وایي: «د مرور زمان دغه مهلت، د سلطان یا حاکم د منعې پر اساس نده بلکې، د فقهاوو لخوا ټاکل شوی دی. نو ځکه له دغو یادو شویو وختونو تېریدو وروسته که د وخت حاکم هر څومره ددعوی په اوریدلو امر وکړي؛ امر یې نه قبلیږي.»[52]

مګر دا په هغه صورت کې چې په ټاکل شوي وخت کې د دعوی اقامه کولو موانع وجود ونلري لکه: غیابت، جنون، صغر او یا دا چې د دعوی یو لوري ظالم حاکم وي؛ نو مرور زمان ددغو موانعو له لرې کېدلو سره شروع کیږي. همدارنګه نور موانع هم شتون لري چې حنفي فقهاوو لخوا مستثنی شوي دي لکه: وقف[53] پدې اړه د مجلة الاحکام په ۱۶۶۳ ماده کې هم یادونه شوې ده چې شرحه یې په لاندې ډول ده: « په دې ماده کې ددې خبرې وضاحت کړی دی چې مطلق مرور زمان د دعوی مانع ندی، بلکې

[49] . هماغه، م ۲۰۹.

[50] . (۱۰) ګڼه لمنلیک ته دې مراجعه وشي. شمس الاسلام صافی، م ۱۳۱.

[51] . الموسوعة الفقية الکویتیه(۱۹۸۶م ـ). وزارت الاوقاف والشون الاسلامية الکویت، طبع ذات السلاسل، ج ۱۳، م ۱۱۹.

[52] . محمد امین ابن عابدین بن عمر بن عبدالعزیز (ـــــــــ). حاشیة رد المختار علی الدرالمختار، القاهره، مصطفی البابي الحلبي مطبعه، ج ۵، ص ۵۶۵.

[53] .هماغه، الموسوعة الفقهية، ج ۱۳، م ۱۱۹.

(c) ketabton.com: The Digital Library

بغیر د عذر څخه که وخت تېر شي بیا به یې دعوی د اوریدو قابل نه وي. مګر که یو شرعي عذر موجود وي؛ نو دعوی به یې قابل د سماعت یا د اوریدلو وي. مثلا: که یو څوک د شرعي عذر له وجې دعوی پریږدي، لکه مدعي کم عمره(صغیر) وي، مجنون(لیونی) وي، معتوه وي، برابره خبره ده که څوک یې ولي یا نګران وي یا نه وي؛ یا خپله مدعی په سفر باندې وي او یا هم مدعي علیه غائب او متغلب وي؛ نو د څه عذر له وجې چې کوم تاخیر یا وروسته والی په دعوی اقامه کولو کې واقع شوی دی، هغه پکې په نظر کې نه نیول کیږي. او دعوی یې اوریدل کیږي. مګر کله چې دغه عذرونو څخه هر یو یې رفع شي، مثلا: ماشوم بلوغ ته ورسیږي، او یا لېونې صحت یاب شي، هغه څوک چې ظالم دی هغه له منځه لاړشي، مدعي له سفر څخه ستون شي، مدعي علیه هم بیرته پیداشي، نو پدې صورت کې مرور زمان بیا ددغه عذرونو له منځه تللو سره په نظر کې نیول کیږي او ددغه عذرونو له منځه تللو او نشتون کې بیا دعوی نه اوریدل کیږي.»[54]

**هغه عذرونه چې د هغوئ په موجودیت کې وروسته له ۱۵ کلونو هم دعوی اوریدل کیږي:**

1. صغر: کله چې د حق خاوند صغیر وي، او په همدغه وجې سره په مقرره نېټه کې دعوی اقامه نشي کړای، نو د مرور زمان نېټه یې د بلوغت له وخت څخه حسابیږي او مخکې لدې څخه نه حسابیږي.
2. مجنون: د مرور زمان موده هغه وخت څخه حسابیږي چې لیونی جوړ شي.
3. معتوه: کله چې د عته یا کم عقل توب حالت ترې لرې شي؛ نو هماغه وخت څخه مرور زمان شروع کیږي.
4. د حق د خاوند غیابت، یا په سفر کې تلل چې د سفر د فاصلي اندازه د قصر د فاصلې په اندازه دي. نو کله چې د حق خاوند بیرته راستون شی؛ نو مرور زمان له همغه وخت څخه شروع کیږي.
5. او کله چې مدعي علیه متغلب وي، او ظالم حکمران له لورې. نو ددغه عذر له منځه تللو سره مرور زمان شروع کیږي.[55]

ددغه حکم د صدور دلایل د حنفي فقهاوو له نظره دوه شیان دي:

1. د مدعی لخوا د حېلې او فریب څخه مخنیوی.

[54] .(۶) ګڼه لمنلیک ته دې مراجعه وشي. سلیم رستم باز، ۴ج، م ۱۹۸-۱۹۹.

[55] . (۵۱) ګڼه لمنلیک ته دې مراجعه وشي. الموسوعة الفقهية، ج ۱۳، م ۱۲۰.

(c) ketabton.com: The Digital Library

2. ظاهري حالت: د ظاهري حالتونو څخه هم دا معلومیږي چې یو شخص لخوا پدغه اوږده موده کې ددعوی اقامې لپاره، اقدام ونشي؛ نو حق نلري که یې حق لرلی نو د مطالبې لپاره به یې اقدام کړی وای.[56]

ب: **د حکومتي حکم (امیر حکم ) په اساس مرور زمان:** ضرورتونو ته په کتلو سره، دعثماني خلافت حاکمانو دغه احساس کولو چې ددعوی د اوریدلو مرور زمان د مودې د کموالي لپاره یو شرعي اجازه پیداکړي. نو حنفي فقهاوو د تخصیص له قاعدې څخه په استفادې سره ددې جواز صادر کړ. دا پدې معنی چې قاضي په قضایي چارو کې د حاکم وکیل دی. نو دې ته په کتلو سره، د هغه صلاحیتونه هم د وخت حاکم لخوا د زمان، مکان، خاصو دعواوو او یا هم د مجتهدینو د آراوو په پیروي سره محدود او مقید کولی شي. چې دغه مطلب ته د مجلة الاحکام ۱۸۰۰ [57]او [58]۱۸۰۱ ماده کې تشریحا اشاره شوې ده.[59]

نو دغه اختیاراتو ته په اساس، د عثماني خلافت حاکمانو د مرور زمان موده د استثنایي مواردو پرته ۱۵کاله تعین کړه. نو د همدې امر په بناء، د معصیت څخه پرته د حاکم د اطاعت د وجوب فتوای چې د حنفي فقهاوو لخوا ورکړل شوې ده، دغه فتوای ته په کتلو سره، وروسته له ۱۵ کالو تېریدو څخه دعوی نه اوریدل کیږي. مګر دا چې حاکم یا سلطان خپله ددعوی د اوریدلو حکم وکړي. البته لکه څنګه چې مخکې یادونه وشوه، حاکم یوازې کولی شي؛ هماغه تعین شویو وختونو کې چې د علماوو لخوا تعین شوي دي، ددعوی د اوریدلو حکم صادر کړي. مګر لدې نه مخکې او زیات حتی حاکم هم دغه صلاحیت او اختیار نلري.[60]

د مجلة الاحکام په ۱۶۶۰ ماده کې راغلي دي چې: « هغه دعواوې چې په عمومي اموالو پورې اړه ونلري لکه: ددین دعوی، د استعمال دعوه، د ودیعت دعوه، د ملکیت دعوه، د جایداد دعوی کوم چې غیر منقول وي یا ددوه اجارو د استعمال دعوی او دداسې بیع تولید کوم چې مشروط او یا معلق وي، وروسته له ۱۵ کالو تېریدو څخه نه اوریدل کیږي.»[61]

که په لنډ ډول یې ووایو، هغه دا چې ددعوی د اوریدلو لپاره ۳۰ کاله او یا لدې څخه زیات وخت د حنفي فقهاوو د اجتهاد په واسطه ټاکل شوی دی. مګر، د دعوی د اوریدلو لپاره ۱۵کاله وخت بیا د

---

56 . (۴) ګڼه لمنلیک ته دې مراجعه وشي. سیدعبدالبصیر حسیني، م ۸۳.

57 . (القاضي وكيل من قبل السلطان لإجراء المحاكمة والحكم)، ( مجلة الاحكام العدلية، سليم رستم باز، ص ۴۶۹.)

58 . (القضاء يتقيد و يتخصص بالزمان أو مكان استثناء بعض الخصومات). ( هماغه، سليم رستم باز، ص ۴۷۰.)

59 . هماغه.

60 . هماغه، ص ۸۳ـ۸۲.

61 . هماغه، سلیم رستم باز، مجلة الاحکام، ۱۶۶۰ ماده، ص ۲۰۷.

(c) ketabton.com: The Digital Library

وخت آمر او سلطان لخوا عامه مصلحت ته په کتلو سره ټاکل شوی دی. نو که چیرې یو څوک تر ۳۰ کلونو پورې دعوی اقامه نه کړي نو د هغه دعوی نه اوریدل کیږي. اګر که آمر یا سلطان یې د اوریدلو امر وکړي؛ ځکه آمر (سلطان) د شرعي مخالف امر نه صادروي. او د سلطان امر منل په هغه صورت کې واجب دي چې د شریعت موافق وي. [62]

دغه ۱۵ کاله موده عامه ده، مګر بعضې خاصو مواردو لپاره هم ځینې مشخصې نېټې ټاکل شوي دي چې هر یو یې په لنډ ډول لاندې ذکر کوم:

## لومړی مطلب: د وقف د متولي دعوی

د مجلة الاحکام په ۱۶۶۱[63] ماده کې پدې اړه داسې راغلي دي: « د وقف متولي یا هغه مرتزق[64] چې د اصل وقف سره منسلک وي، د شپږ دیرش کالو پورې د هغوئ دعوی قابل د سماعت ده.

پدې ماده کې مرتزق هغه سړی چې چې د وقف څخه ګټه اخلي، لکه: امام، مؤذن او نور... او اصل وقف هر هغه شی دی چې، په هغې باندې د وقف صحت موقوف وي. او علاوه د هغې نه چې څه وي؛ نو هغه د وقف په شرطونو کې وي. د متولي او مرتزق د دعوې نه مراد دادی، چې دعوی د اصل هدف طرف ته چې وقف دی، عائد یا متوجه وي؛ نو شپږ دیرش کالو پورې اوریدل کیږي. مثلا که یو څوک د یو سړي په یوه ځمکه باندې ملکي تصرف وکړي، پدې باندې ۳۶ کاله تېر شي؛ او بیا متولي راشي او ووایي چې، دا زما وقف شوې ځمکه ده؛ نو د هغه دعوی به نشي اوریدلی. برعکس، که دعوی د هغوئ دواړو یعنې د وقف طرفینو ته متوجه وي؛ او ګټه یې هغوئ ته رسیږي، نو د ۱۵ کالو تېریدو وروسته به د اوریدلو وړ نه وي.[65]

---

[62] . حامد محمد عبدالرحمن(۱۹۷۶هـ.ش). نظریة عدم السماع الدعوی للتقادم بین الشریعة و القانون، الرسالة الدوکتورا، کلیة الشریعة والقانون، القاهره. ص ۵۸. د لاسرسي لینک: http://iefpedia.com/arab/wp-content/uploads/2009/09/%D8%A3%D8%AD%D9%83%D8%A7%D9%85-%D8%A7%D9%84%D8%AA%D9%82%D8%A7%D8%AF%D9%85-%D9%81%D9%8A-%D8%A7%D9%84%D9%81%D9%82%D9%87-%D8%A7%D9%84%D8%A5%D8%B3%D9%84%D8%A7%D9%85%D9%8A-%D8%AF.%D9%85%D8%AD%D9%85%D8%AF-%D8%A3%D8%AD%D9%85%D8%AF-%D8%AD%D8%B3%D9%86-%D8%A5%D8%A8%D8%B1%D8%A7%D9%87%D9%8A%D9%85.pdf

[63] . المادة ۱۶۶۱: «تسمع دعوی 1613 المتولي والمرتزقة التي هيـ في حق أصل الوقف إلى ست وثلاثین سنة»، ((۲۴) ګڼه لمنلیک ته دې مراجعه وشي. سلیم رستم باز، ۴ ج، م ۱۹۵.

[64] . مرتزق؛ هغه شخص دی چې د وقف نه فایده ورکول کیږي، لکه: امام، مؤذن.

[65] . هماغه، سلیم، رستم باز، ج ۴، م ۱۹۵.

(c) ketabton.com: The Digital Library

نو که په لنډ ووایو، که دعوې په اصل وقف پورې تړاو درلود؛ نو د مرور زمان نېټه یې ۳۶ کاله ده، او که دعوې د وقف اصل پورې تړوا نه درلود، لکه: په وقف باندې ناظر اجورې او یا هم د طرفینو پورې تړاو درلودونکي دعوې مرور زمان نېټه ۱۵ کاله ده او وروسته له وخت څخه یې دعوی نه اوریدل کیږي.[66]

## دویم مطلب: د خاصې لارې دعوی

پدې اړه د مجلة الاحکام العدلیې ۱۶۶۲ ماده کې داسې راغلي دي: «**إن کانت دعوی الطریق الخاص والمسیل، وحق الشرب، في عقار الملك فلا تسمع بعد مرور خمس عشرة سنة**»[67]

**ژباړه:** که دعوی په عقار ملکیت کې د خاصې لارې[68]، مسیل حق[69]، شرب حق[70] پورې اړوند وي؛ نو دعوی به ۱۵ کاله وروسته نه اوریدل کیږي.

وروسته، د مادې په دوام کې داسې راغلي دي: «**إن کانت في عقار الوقف فللمتولي أن یدعیها إلی ست وثلاثین سنة**» که د وقف متولي له بل طرف مملوکې یا موقوفي ځمکې سره د اوبو د تېریدو د حق دعوی وکړي نو تر ۳۶ کالو پورې به د هغه دعوی اوریدل کیږي او وروسته لدې نه بیا د دعوی د اوریدلو وړ نه دی.

ورسره، د یادې مادې په اخره کې بیا داسې راغلي دي: «**ولا تسمع دعوی الطریق الخاص والمسیل وحق الشرب التي هي في الأراضي الأمیریة یعد أن ترکت عشر سنین**» یعنې په سرکاري ځمکو باندې د خاص لارې، د مسیل او د شرب حق دعواوې د لسو کلونو له تېریدو څخه وروسته نه اوریدل کیږي. [71]

---

[66] .(۵۱) ګڼه لمنلیک ته دې مراجعه وشي. الموسوعة الفقهیة، ۱۳ج، ۱۲۰م.

[67] . المجلة الاحکام العدلیة، المادة ۱۶۶۲.

[68] . خاصې لارې د مرور حق: مرور په لغت کې تېریدلو ته وایي. او په اصطلاح کې مرور د بل چا په ملکیت کې تلو راتلو د حق څخه عبارت دی. (فضل هادي فضلي(۱۳۹۸هـ.ش). عیني حقوق، د یارخېرندویه ټولنه، جلال اباد، ص ۱۷۶.)

[69] . مسییل په لغت کې د اوبو د تېریدلو ځآی او د باران د اوبو د تېریدلو د ځای په معنی ده. او په اصطلاح کې د مسیل حق له کور څخه د باندې د فاضله اوبو او د باران د اوبو د ویستلو څخه عبارت دی. یا په بل عبارت د مسیل حق د سر خلاص لښتي، سرپټ لښتي او پیپ په واسطه د مستعملو اوبو تېرول دي عامه لارې ته. (هماغه، فضل هادي فضلي ، ص ۱۷۹.)

[70] . شرب د (ش) د توري په زیر سره د اوبو د برخې د اوبو د نوبت او همدارنګه د اوبو کولو د وخت په معنی هم استعمالیږي. (هماغه، فضل هادي فضلي، م ۱۷۱) او په اصطلاح کې د افغانستان مدني قانون د اوبو کولو حق داسې تعریف کړی دی«اوبه کول د ونو یا کرهنې د اوبه کولو لپاره په اوبو د ګټې اخستلو د نوبت څخه عبارت دی.» (۲۵ ګڼه لمنلیک ته دې مراجعه وشي. د افغانستان مدني قانون، ۲۳۴۶ماده. ) او یا هم د اوبو ورکولو حق عبارت دی له دې څخه چې یو کس د خپلو اوبو په نوبت کې خپل زراعت او باغونه اوبه کړي. (هماغه، فضل هادي فضلي، م ۱۷۱.)

[71] . (۶) ګڼه لمنلیک ته دې مراجعه وشي. سلیم رستم باز، ج ۴، م ۱۹۵-۱۹۶.

(c) ketabton.com: The Digital Library

## دریم مطلب: په مؤجل[72] دین کې د دعوې اوریدل

پدې اړوند د مجلة الاحکام ۱۶۶۷[73] ماده کې داسې راغلي دي چې شرحه یې په لاندې ډول ده: « پدې ماده کې ددې خبرې وضاحت دی چې، د مؤجل دین په صورت کې مرور زمان هغه وخت څخه شروع کیږي؛ کوم وخت څخه چې د مدعي لپاره ددعوې کولو حق شروع کیږي، یعنې کله چې د قرض د ترلاسه کولو تاریخ راشي؛ نو د هغه وخت څخه به مرور زمان شروع کیږي. ځکه چې ددې نه مخکې کله چې د قرض وخت پاتې وي؛ نو مدعي ته دهغه قرض د مطالبې حق نه وو او کله چې دغه موده ختمه شوه؛ نو اوس هغه ددې قرض مطالبه کولی شي. مثلا: یو چا په بل باندې داسې دعوی وکړه چې زما په تا باندې د فلاني شي دومره روپۍ دي، کوم چې پنځلس کاله مخکې ستا په لاس باندې د درې کالو لپاره په قرض خرڅ کړی وو؛ نو د هغه سړي دعوی به د اوریدلو وړ وي، ځکه چې د روپۍ د اداء کولو په وخت کې صرف دولس کاله تیر شوي دي. [74]

## څلورم مطلب: د کرایه دار د ملکیت دعوی

د کرایه دار د ملکیت دعوې په اړه د مجلة الاحکام په ۱۶۷۳ کې داسې راغي دي: «**لیس لمن کان مقرا بکونه مستأجرا في عقار أن یملکه لمرور زمان أزید من خمس عشرة سنة وأما إذا کان منکرا وادعی المالك بأنه ملکي وکنت آجرتك إیاه قبل بستین وما زلت أقبض أجرته فتسمع دعواه، إن کان إیجاره معروفا بین الناس و إلا فلا**».

**ژباړه:** پدې ماده کې ددې خبرې تصریح شوې هغه کرایه دار چې ددې خبرې اقرار کوي چې زه پدغه کور کې په کرایه اوسیږم او په هغې پنځلس کاله تېر شي، په دې وجه زه پدې کور کې پنځلس کاله اوسیدلی یم او ماته چا څه ندي ویلي زه ددې کور د ملکیت دعوه کوم؛ نو دا دعوی صحیح نده. همدارنګه که هغه د کرایه دار کیدو نه انکار وکړي او مالک دا دعوه وکړي چې دا زما ملکیت دی او ما تاته څو کاله مخکې په کرایه باندې درکړی وو او زه کرایه هم اخلم؛ نو که د هغې کرایه ورکول عام طور مشهور وي؛ نو دعوی به یې اوریدل کیږي او که عام طور مشهور نه وي یعنې عامو خلکو ته معلوم نه وي؛ نو دعوه به یې نه اوریدل کیږي.[75]

---

72. چې په وخت معین شوی وي.

73. «فمرور الزمان في دعوی دین مؤجل إنما یعتبر من حلول الأجل لأنه لیس للمدعي صلاحیة دعوی ذلك الدین ومطالبته قبل حلول الأجل مثلا لو ادعی أحد علی أخر بقوله لي علیك کذا دراهم من ثمن الشيء الفلاني الذي بعتك إیاه قبل خمس عشرة سنة مؤجلا لثلاث سنوات تسمع دعواه لأنه یکون قد مر اثنتا عشرة سنة» ( المجلة الاحکام العدلیة، المادة ۱۶۶۷.

74. هماغه، سلیم رستم باز، ج ۴، م ۲۰۱.

75. هماغه، ۴ج، ۲۰۷م.

(c) ketabton.com: The Digital Library

### پنځم مطلب: د عام المنفع ملکيتونو پورې اړوند دعواوو مرور زمان

د عام المنفعه ملکيتونو [76] دعواوو کې مرور زمان ته اړتيا نشته يعنې نېټه په کې په نظر کې نه نيول کيږي، پدې اړه د مجلة الاحکام ۱۶۷۵ ماده کې داسې راغلي دي: « **اعتبار لمرور الزمان في دعاوى المحال التي يعود نفعها للعموم كالطريق العام والنهر والمرعى مثلا لو ضبط أحد المرعى المخصوص بقرية وتصرف فيه خمسين سنة بلا نزاع ثم ادعاه أهل القرية تسمع دعواهم.»**

يعنې، هغه دعواوې چې عامه ګټې سره تعلق لري لکه: عامه لاره، نهر او سرځايونه، نو په داسې دعواوو کې به ميعاد ته اعتبار نه وي، مثلا: که يو سړي د چا د کلي په سرځای باندې قبضه وکړه او بغير د نزاع نه تر پنځوسو کالو پورې په هغې باندې متصرف وي او د يادې مودې نه وروسته د هغه کلي خلک دعوه ووکړي؛ نو د هغوئ دعوی به اوريدل کيږي.[77]

يادونه: د دعوې د اوريدلو د منعې نېټه په هجري قمري او هجري شمسي سره حسابيږي.[78]

[76] . هغه چې د عامه ګټې سره تعلق ولري لکه: عامه لار، نهر او سرځای.

[77] . هماغه، سليم رستم باز، ۴ ج، ۲۱۰م.

[78] .(۵۱) ګڼه لمنليک ته دې مراجعه وشي. الموسوعة الفقهية، ج ۱۳، ص ۱۱۹.

(c) ketabton.com: The Digital Library

# دریم څپرکی

## د افغانستان په حقوقو کې د مدني مرور زمان څرنګوالی

د مدني مرور زمان د افغانستان په حقوقو کې، له حنفي فقهې څخه اخستل شوی دی. نو د مدني مرور زمان مربوط قواعد د افغانستان مدني قانون دویم جلد له ۹۶۵څخه تر ۹۸۲ مادې پورې او بیا له ۲۲۵۶ څخه تر ۲۲۹۸ مادې؛ په مفصله تو ګه او همدارنګه د افغانستان د تجارت اصولنامې په ځینو مواردو کې ذکر شوی دی. د افغانستان مدني قانون کې مدني مرور زمان «د وخت په تېریدو د حق سقوط» تر عنوان لاندې او هم د عیني حقوقو او اموالو مرور زمان د حیازت په مبحث کې « دحق کسب کوونکی مرور زمان» تر عنوان لاندې راغلی دی. د افغانستان په حقوقو کې د مدني مرور زمان په اړه لاندې مسائل ضروري دي چې تر بحث لاندې یې نیسم:

### لومړی مبحث: د افغانستان د مدني قانون له نظره د مرور زمان شرایط

د افغانستان د مدني قانون په مختلفو مادو کې د مدني مرور زمان لپاره ځینې شرایط ذکر شوي دي؛ چې په لاندې ډول دي:

### لومړی شرط: حیازت باید مالکانه، مسالمت آمیز، علني، واضح او مستمر وي:

ددغه شرط هر یو جزء په لنډ ډول تشریح کوو:

**لومړی جزء: مالکانه والی:** تصرف په معلومه موده کې، یوازې په هغه صورت کې د مرور زمان موجب ګرځي، چې متصرف لکه: د خپل په شان په ملکیت کې تصرف وکړي. نو دې ته په کتلو سره که بل څوک د یو چا په نیابت سره په یو مال کې تصرف وکړي، د مرور زمان موجب نه ګرځي.[79] نو دې ته په کتلو سره، د افغانستان مدني قانون ۲۲۶۵ ماده کې داسې راغلي دي: « (۱) که څوک د اجارې یا عاریت له لارې د عقار ذوالیدي او پرې اقرار هم وکړي؛ نو نشي کولی چې پخپلې دې ذوالیدۍ په اجاره ورکونکي او عاریت ورکونکي باندې د زمانې په تېریدو سره د دعوی د نه اوریدلو تمسک وکړي.»[80]

---

[79] .(۴) ګڼه لمنلیک ته دې مراجعه وشي. سیدعبدالبصیر حسیني، م ۸۵.

[80] .(۲۵) ګڼه لمنلیک ته دې مراجعه وشي. د افغانستان مدني قانون، ۴ ج، ۲۲۶۵ (۱) ماده.

(c) ketabton.com: The Digital Library

**دويم جزء: تصرف بايد مسالمت آميز وي:** د مرور زمان د تحقق لپاره تصرف بايد پرته له اکراه او اجبار څخه په مسالمت آميز ډول وي. ځکه د اکراه په صورت کې مرور زمان د قبول وړ نه دی. [81]

**دريم جزء: علني والی:** تصرف بايد په علني ډول وي؛ او د مال اصلي مالک بايد پدې خبر وي او دا تصرف که يوازې اوسني متصرف او د ملکيت اصلي مالک ته ښکاره وي، او ټولو خلکو ته ښکاره هم نه وي پروا نه کوي. [82]

**څلورم جزء: د تصرف واضح والی:** تصرف بايد په داسې شکل وي چې، مدعي ته هر څه کاملا واضح وي او هيڅ نوعه شک بايد د ملکيت په تصرف کې موجود نه وي. [83]

دغه قيدونه د افغانستان د مدني قانون ۲۲۵۸ ماده کې پداسې شکل ذکر شوي دي: « که حيازت د زور سره يوځای شي يا په پټه واقع شي يا په کې التباس موجود وي، نو پر هغه چا چې زور شوی يا ورڅخه حيازت پټ شوی دی او يا وربانديې حيازت ملتبس شوی وي، هيڅ تاثير نلري مګر کله چې عيبونه لرې شول بيا وربانديې موثر دی.»[84]

**پنځم جزء: استمراري والی:** له استمرار څخه مقصد پرله پسې توګه د ملکيت څخه استفاده کول دي.[85]

دغه مطلب د افغانستان د مدني قانون په ۲۲۷۹ماده کې داسې بيان شوی دی: « دميراث په استثنأ که څوک بې له انقطاع څخه، د پنځلسو کلونو په اوږدو کې پر له پسې توګه د عقار يا کوم بل شي ذواليد وي؛ او په هغې کې بې له جګړې او معارضې تصرف ولري، نو په هغه بانديې د ملکيت دعوی نه اوريدل کيږي.»[86]

## دويم شرط: ددعوی د اقامه کولو په اړه په معلومه موده کې له کوم شرعي عذر پرته د حق د مدعي چوپتيا:

د دائن يا د حق د مدعي سکوت د مديون په وړانديې او د حق عدم مطالبه، همدارنګه د ملکيت خاوند سکوت د متصرف په وړانديې، او د معلومې او ټاکل شوې نېټې تېريدل د مرور زمان د تحقق اساسي شرايطو څخه دی. او دغه شرط په هغه صورت کې اعتبار لري چې، د دعوی په اقامه کولو کې کوم شرعي عذر موجود نه وي. [87] پدې اړه د مدني قانون ۲۲۸۱ ماده داسې صراحت لري: « که د ملکيت،

---

[81] . هماغه، سيدعبدالبصير حسيني، م ۸۵.

[82] . هماغه.

[83] . هماغه.

[84] . هماغه، د افغانستان مدني قانون، ۴ ج، ۲۲۵۸ماده.

[85] . هماغه، سيدعبدالبصير حسيني، م ۸۶.

[86] . هماغه، د افغانستان مدني قانون، ۴ ج، ۲۲۷۹ ماده.

[87] . هماغه، سيدعبدالبصير حسيني، م ۸۶.

(c) ketabton.com: The Digital Library

میراث یا د وقف دعوی پرینبودل د شرعي عذر لکه: غیابت، قصور یا لیونتوب په اساس صورت موندلی وي، ولي او وصي هم وجود ونلري، نو دارنګه دعوی اوریدل کیږي. مګر که چیرته شرعي عذر شتون ونلري،یا هم غایب حاضر شي، قاصر بالغ او لیونی هوښیار شی، نو پدې صورت کې د ټاکل شوې مودې له تېریدو وروسته دا ډول دعوی بیا نه اوریدل کیږي.»[88]

## دریم شرط: د هغه کس لخوا قسم کول چې یو کلن مرور زمان کې د دعوی د حق په سقوط استناد کوي:

څوک چې په دغه ډول مرور زمان باندې استناد کوي، که خپله مدیون وي باید د خپلې ذمې د برائت په اړه او که د هغه ځایناستی وي باید په نه پوهیدلو قسم وخوري. پدې اړه د مدني قانون ۹۶۹ ماده داسې صراحت لري: « که څوک د یو کال په تېریدو دعوی په نه اوریدلو باندې تمسک وکړي، نو چې د محکمې لخوا ورته قسم متوجه کیږي، باید داسې قسم یاد کړي چې، زه له پور څخه بري الذمه یم، که قسم د پوروړي وارثانو، اولیاوو، وصیانو او قیمانو ته متوجه شو، باید چې داسې سوګند یاد کړي چې مونږ یې د ادأ کولو څخه خبر نلرو.»[89] ورسره، د مصر مدني قانون ۳۷۸ ماده هم همداسې صراحت لري.[90]

## څلورم شرط: په عیني حقوقو او اموالو کې د حیازت کوونکي حسن نیت:

څوک چې په یوه ټاکلي موده کې په حیازت استناد کوي، باید په خپل حیازت کې حسن نیت ولري، پدې نیت یې حیازت پکې کړی وي چې، دغه مال مباح دی او همدارنګه د مدعي لخوا د دعوی په واسطه د هغه حیازت بطلان ته کوم اعلام هم نه وي شوی. [91]

پدې اړه د مدني قانون په ۲۲۷۷ماده کې داسې تصریح شوې ده: « ښه نیت هغه وخت نفی کیږي، چې حایز پوه شي چې، د هغه حیازت د بل چا په حق تېری دی؛ یا دا چې د هغه حیازت د عیوبو له اعلان له وخته په خبرتیا سره یا د مدعي د عوې په صورت کې ورته ابلاغ شوي وي.»[92]

---

[88] . هماغه، د افغانستان مدني قانون، ۴ج، ۲۲۸۱ ماده.

[89] . هماغه، ۲ج، ۹۶۹ ماده.

[90] .« ( ویجب علی من یتمسك بأن الحق قد تقادم بسنة أن یحلف الیمین علی أنه أدي الدین فعلا . وهذه الیمین یوجهها القاضي من تلقاء نفسه وتوجه إلی ورثة المدین أو أوصیائهم إن كانوا قصرا ، بأم لا یعلمون بوجود الدین أو یعلمون بحصول الوفاء.»(القانون المدني المصري، المادة ۳۷۸، د لاسرسي لینک http://arbooks.tk.)

[91] . هماغه، سیدعبدالبصیر حسیني، م ۸۷.

[92] . (۲۵) ګڼه لمنلیک ته دې مراجعه وشي. د افغانستان مدني قانون، ۴ ج، ۲۲۷۷ماده.

(c) ketabton.com: The Digital Library

## پنځم شرط: د قانون ټاکلې مودې تېریدل

د مرور زمان په قانون کې ټاکلې موده تعین شوې ده، چې د یادې مودې تېریدل د مرور زمان د تحقق لپاره اساسي شرط دی.[93]

## دویم مبحث: د مدني مرور زمان قلمرو

ددعوی د حق ساقطوونکی مرور زمان قلمرو، ټول حقوق او دینونه دي. همدارنګه د حق کسب کوونکي مرور زمان قلمرو کې ټول منقول او غیر منقول اموال او عیني حقوق شامل دي. د افغانستان مدني قانون ۲۳۰۲ ماده[94] کې د انتفاع حق یو له اسبابو څخه مرور زمان ګڼل شوی دی. د منقولو او غیر منقولو اموالو حیازت په اړه د مدني قانون ۲۲۸۸ماده کې داسې راغلي دي: « که څوک په منقول مال او یا هم په منقول مال باندې د عیني حق یا داسې سند چې د هغه د حامل په نامه اعتبار ولري او صحیح سبب او ښه نیت ته مستند وي، حایز شي، د هغې مالک ګڼل کیږي. صحیح سبب په هغې سند اطلاق کیږي چې د مالک څخه په غیر یا د حق خاوند څخه بغیر د بل چا لخوا صادر شوی وي.»[95]

ځېنې حقوق او اموال، د مرور زمان له قلمرو څخه استثنأ شوي دي؛ نو په مرور زمان کې شامل نه ګڼل کیږي چې په لاندې ډول دي:

أ) دولتي اموال

ب) تاریخي اثار

ت) د وقف عامل په واسطه د وقف تملک؛ پدې اړه د مدني قانون ۲۲۸۰ ماده دویمه فقره داسې تصریح لري: « (۲) د دولت د مالونو، د تاریخي اثارو او د وقف د مال تملک د زمانې د تېریدو په اساس جواز نلري.»[96]

ث) عام المنفعه یا د عمومي ښېګڼو جمعیت[97] پورې اړونده اموال: پدې اړه د افغانستان د مدني قانون ۴۴۲ ماده داسې صراحت لري: « دعمومي سلطې د صلاحیت څخه د عمومي ښېګڼو د جمعیت د استفادې حدود، د جمعیت په ټولو او یا یوه برخه اموالو کې د حجز ناروا والی، ددې

---

93 . (۴) ګڼه لمنلیک ته دې مراجعه وشي. سید عبدالبصیر حسیني، م ۸۸.

94 .« دګټې اخستلو حق د قانوني عمل په سبب د شفعې او یا هم د زمانې تېریدنې سره تر لاسه کیدای شي.» (هماغه، د افغانستان مدني قانون، ۴ج، ۲۳۰۲ ماده.)

95 . هماغه، د افغانستان مدني قانون، ۴ج، ۲۲۸۸ ماده.

96 . هماغه، د افغانستان مدني قانون ۲۲۸۰(۲) ماده.

97 . پدې اړه د افغانستان مدني قانون ۴۴۰ مادې اوله فقره داسې صراحت لري:«(۱) د عامه ښېګڼو جمعیت هغه دی چې، د عمومي ښېګڼو د تامین په منظور تاسیسیږي.» (هماغه، د افغانستان مدني قانون، ۱ج، ۴۴۰(۱) ماده.)

(c) ketabton.com: The Digital Library

مالونو د ملکیت په باره کې د زمانې تېریدو عدم تاثیر او د استملا ک جواز د جمعیت د هدفونو د تامین لپاره د مقرراتو په وسیله توضیح کیږي.»[98]

ج) عامه اموال: د مدني قانون ۴۸۲ مادې مطابق، عامه اموال د مرور زمان په وسیله د تملک وړ نه دي. [99] د یادې مطابق عامه اموال په لاندې ډول دي:

(۱) عامه اموال په لاندې ډول دي:

1. د د ولت منقول او غیر منقول اموال
2. د حکمي اشخاصو منقول او غیر منقول اموال
3. هغه منقول او غیر منقول اموال چې د عامو خلکو د ګټو او ښېګڼو لپاره خاص شوي وي.
4. هغه منقول او غیر منقول اموال چې د قانون په حکم عامه ګڼل شوي وي.

(۲) پدې اموالو کې د زمانې د تېریدنې په اساس تصرف، حجز او د خپل ملکیت لاندې راوستل جواز نلري. [100]

همدرانګه، د ځینو هېوادونو په قوانینو کې ځېنې نور استثنأت هم شته، لکه د فرانسې مدني قانون ۲۲۵۳مادې[101] مطابق د زوجینو ترمنځ دعوې کې مرور زمان نه جاري کیږي.[102]

## دریم مبحث: د مدني مرور زمان ټاکل شوې نېټه(مهلت)

مخکې لدې چې، پدې اړه بحث وکړو دوو خبرو یادونه ضروري ده:

لومړی: لکه څرنګه چې، په لومړي فصل کې یادونه وشوه اصولا د عادي مرور زمان موده د افغانستان په مدني حقوقو کې ۱۵کاله دی.

دویم: د نماینده شخص په واسطه د دعوی پرېښودل هم کیدلی شي چې، د اصلي شخص د دعوې د پرېښودلو له مودې سره ضمیمه شي. مثلا: که مورث یا بایع، د مرور زمان لپاره له ټاکل شوې نېټې څخه په کمه موده کې د خپل حق یا د ارث مال یا بیع په اړه ترک د دعوی وکړي او مشتري یا وارث ته د هغه مال له رسیدو وروسته هم هغه د خپل دعوی اقامې څخه ډډه وکړي، په هغه صورت کې ددغه

98 . هماغه، د افغانستان مدني قانون، ۱ج، ۴۴۲ماده.

99 . (۴) ګڼه لمنلیک ته دې مراجعه وشي. سیدعبدالبصیرحسیني، م ۸۸.

100 . هماغه، د افغانستان مدني قانون، ۱ج، ۴۸۲ماده.

101 . (Running of Prescription, It does not run between spouses.). (French, Civil Code (1827). art: 2253.)

102 . هماغه، سیدعبدالبصیرحسیني، م ۸۹.

(c) ketabton.com: The Digital Library

موديٖ جمع د قانون ټاکلې موده پوره کړي، مرور زمان تحقق پيدا کوي.[103]
پديٖ اړه د مدني قانون ۹۷۱ ماده داسې صراحت لري: « که چيرته سلف دعوی پريښې، او د هغه خلف هم يو څه موده دعوی پريښې او دا دواړه موديٖ د زمانې د تېريدنې موده پوره کړي؛ نو دعوی يې د اوريدلو وړ نه ده.» [104]
اوس راځو په مدني قانون کې د مرور زمان لپاره ټاکل شوو نېټو(مهلتونو) ته:

## لومړی مطلب: د مکسب مرور زمان مهلتونه يا ټاکلې نېټه (په عيان کې مرور زمان)

لومړی جزء: پنځلس (۱۵) کاله: د ټولو منقولو او غير منقولو اموالو ملکيت په مورد کې د ارث ددعوی په استثنی، نو د دوئ لپاره د مرور زمان نېټه ۱۵ کاله ده.[105] چې پديٖ اړه د مدني قانون ۲۲۷۹ ماده کې داسې راغلي دي: « د ميراث په استثنأ که څوک په پرله پسې ډول بې له انقطاع څخه د پنځلسو کلونو په اوږدو کې د عقار ذواليد وي او پکې بې له جګړې او معارضې تصرف ولري، په هغه باندې د ملکيت دعوی نه اوريدل کيږي.»[106]
دويم جزء: دري ديرش (۳۳) کاله: د ارث دعوی په اړه د مدني قانون ۲۲۸۰ مادې لومړۍ فقره داسې صراحت لري: «(۱) که څوک په عقار باندې ۳۳کلونو په اوږدو کې پرته له جګړې تصرف ولري، نو په هغه باندې بې له شرعي عذر څخه، د ميراث دعوی نه اوريدل کيږي.»[107]

## دويم مطلب: ددعوی د حق ساقطوونکی مرور زمان لپاره ټاکل نېټه

ددې لپاره مختلفې ټاکل شوې نېټې تعين شوي دي، چې په لاندې ډول دي:
**لومړی جزء: پنځلس (۱۵) کاله**: ۱۵ کاله هم د لاندې مواردو لپاره ټاکل شوې ده:

1. د حق د مطالبې دعوی لپاره چې، د افغانستان مدني قانون په ۹۶۵ ماده[108] کې ذکر شوي دي.[109]
2. په ليکل شوي سند مستند، حق په مورد که حتی نېټه يې له ۱۵ کالو کم هم وي.[110] پدې اړه د

---

[103]. هماغه.
[104]. (۲۵) ګڼه لمنليک ته دې مراجعه وشي. د افغانستان مدني قانون، ۲ ج، ۹۷۱ماده.
[105]. هماغه، سيدعبدالبصيرحسيني، م ۸۹.
[106] . هماغه، د افغانستان مدني قانون، ۴ ج، ۲۲۷۹ ماده.
[107] . هماغه، ۲۲۸۰(۱) ماده.
[108] .۹۵۶ماده: (۲) په منکر د حق دعوی په هر سبب چې وي، د ۱۵کلونو په تېريدلو سره نه اوريدل کيږي. (هماغه، ۹۶۵(۲) ماده.
[109]. (۴) ګڼه لمنليک ته دې مراجعه وشي. سيدعبدالبصيرحسيني، م ۸۹.
[110] . هماغه.

(c) ketabton.com: The Digital Library

مدني قانون په ۹۷۰ کې داسې صراحت شتون لري: «(۲) که کوم حق ددې حقوقو څخه په سند کې ولیکل شي، دداسې حق غوښتنه نه ساقطیږي مګر دا چې بې له کوم قانوني عذره، د استحقاق له نېټې څخه تر ۱۵کلونو پورې نه وي غوښتل شوی.»[111]

3. د مدني قانون ۹۶۶مادې مطابق، که استمراري، نوي کیدونکي حقوق لکه، دکورونو کرایه، د ځمکو اجاره، معاشونه، بې له قانوني عذر څخه پنځو کلونو کې ونه غوښتل شي، نو دعوی یې نه اوریدل کیږي. د هغه حاصلاتو دعوی چې، په بد نیت تصرف کوونکي تر ذمې لاندې پاتې وي یامستحقه ګڼه چې د وقف د ناظر په ذمه پاتې وي دهغې دعوی تر پنځلسو کلونو پورې اوریدل کیږي، وروسته تردې بیا نه اوریدل کیږي.[112]
4. په هغه صورت کې چې قطعي حکم صادر شي، یا داچې د مرور زمان ټاکلي مهلت یو کال وي، مګر د مدیون د اقرار په سبب د هغه جریان قطع شي. نو په همغه دعوی کې د مرور زمان نوي ټاکلې نېټه ۱۵ کاله ده. [113] پدې اړوند د مدني قانون ۹۷۹ ماده داسې صراحت لري: « (۲) که حکم قطع شي، یا دا چې د دعوی د نه اوریدلو ټاکلې موده یو کال وي؛ او د پوروړي په اقرار قطع شي، نو د دعوی نه اوریدلو لپاره نوې موده ۱۵کاله ده.»[114]
5. د انتفاع، ارتفاق او حکر حق[115]: که چیرته د انتفاع، ارتفاق حقوقو څخه تر ۱۵ کلونو پورې استفاده ونشي، نو پدې صورت کې پای ته رسیږي او له منځه ځي. [116] همدارنګه یاد حقوقو کې د مدني قانون [117]۲۳۱۶، [118]۲۳۶۳ او [119]۲۳۳۷مادو مطابق که ۱۵کاله ورڅخه استفاده ونشي، ساقطیږي. د نورو حقوقو په خلاف، له دغه حقوقوو څخه عدم استفاده په یاده موده کې ددعوې حق د سقوط سره سره ددوئ د اصل د سقوط باعث هم ګرځي.[120]

**دویم جزء: پنځه (۵) کاله:** د لاندې حقوقو لپاره د مرور زمان موده ۵کاله ټاکل شوې ده:

---

111. هماغه، د افغانستان مدني قانون، ۲ج، ماده ۹۷۰(۲).
112. هماغه، سیدعبدالبصیر حسیني، م ۹۰.
113. هماغه.
114. هماغه، د افغانستان مدني قانون، ماده ۹۷۹(۲).
115. د حکر حق داسې یو عیني حق څخه عبارت دی چې، د هغې څخه مقصد د یوې ټاکلې اجورې په بدل کې ځمکه د غرس او بنأ لپاره یا ددې دواړو څخه د یو لپاره پاتې کیدل وي. « هماغه، ۲۳۲۳ ماده.»
116. .(۶۷) ګڼه لمنلیک ته دې مراجعه وشي. فضل هادي فضلي، م ۲۰۴.
117. . ۲۳۱۵ماده: « که د نفعې حق پوره ۱۵ کاله استعمال نشي؛ نو حق پای ته رسیږي.» ( هماغه، ۲۳۱۶ماده.)
118. . ۲۳۶۳ماده: « که ارتفاق حقوق پنځلس کلونو په اوږدو کې استعمال نشي، پای ته رسیږي.» (هماغه، ۲۳۶۳ماده)
119. .۲۳۳۷ماده: « که د پنځلسو کلونو په موده کې د حکر حق څخه ګټه وانخستل شي، نو د حکر حق پای ته رسیږي.» (هماغه، ۲۳۳۷ماده.)
120. . (۴) ګڼه لمنلیک ته دې مراجعه وشي. سیدعبدالبصیرحسیني، م ۹۰.

(c) ketabton.com: The Digital Library

1. که استمراري، نوي کيدونکي حقوق لکه، دکورونو کرايه، د ځمکو اجاره، معاشونه، بې له قانوني عذر څخه پنځو کلونو کې ونه غوښتل شي، نو دعوی يې نه اوريدل کيږي.
2. د هغه مالياتو او محصولاتو دعواو کې چې دولت د هغه مستحق ګڼل کيږي.
3. هغه مالياتي، او محصولاتو پورې اړوند دعواوو کې چې ناحق (بل چاته) ورکړل شوي وي.[121]

پدې اړه د مدني قانون ۹۷۴ ماده داسې صراحت لري:

«(۱) د ماليو او محصول دعوی چې دولت يې مستحق وي، د پنځو کلونو تېريدو وروسته نه اوريدل کيږي. (۲) د ماليې بيرته اخستلو دعوی او د هغه محصول دعوی چې بل چاته ورکړل شوی وي، د پنځو کلونو تېريدو وروسته نه اوريدل کيږي.» [122]

**دريم جزء: دوه کاله:** د قرارداد مربوط دعوی او يا هم هغه دعوی کې چې بيمه پکې رامنځته شي، د واقع کيدو له تاريخ څخه، پدې اړه د تجارت د اصولنامې ۹۴۲ماده داسې وضاحت لري: « هر ډول دعوی چې دبيمې له مقاولې څخه پيدا کيږي د اختلاف دپېښېدو له نېټې نه وروسته له دوو کلونو څخه ساقطيږي.» [123]

**څلورم جزء: يو کال:** د لاندې مواردو په هکله يو کال مرور زمان موده ټاکل شوې ده:

1) د استاذ، ډاکتر، مدافع وکيل، مهندس پورې مربوط دعوی کې چې له وظيفې څخه رامنځته شوې وي، او په کُلي ډول د هر هغه شخص چې ازاد کار او بار ولري لکه، درمل پلورنکی، دلال[124]، کمېشن کار[125] او نور...هغه پورې مربوط دعواوو کې د مرور زمان موده يو کال ټاکل شوې ده.[126]
2) د تاجر او صنعت ګر اړوند حقوقي دعواوو کې چې وارداتي او توليدي اشيأء بل چا ته سپارل شوي وي، مګر دغه کسان پکې تجارت ترسره کوي، نو دغه دعواوو ته هم د مرور زمان موده

---

121 . هماغه.

122 . هماغه، د افغانستان مدني قانون ۹۷۴ماده.

123 .(۱۵) ګڼه لمنليک ته دې مراجعه وشي. د افغانستان د تجارت اصولنامه، ۹۴۲ماده.

124 . هغه کسان چې د مقاولې له مخې هيڅ يو له طرفينو څخه خاص اجير نه وي؛ خو د تجارتي مقاولاتو د منعقدولو لپاره يوازې د اجرت په مقابل کې، د غاقدينو په منځ کې منځګړتوب کوي او پدې صورت کې د تجارتي معاملاتو په عقد کې د اسانتياو راوستل ځانته کسب وګرځوي، دلال بلل کيږي. (هماغه، د تجارت اصولنامه، ۹۹ماده.)

125 . هغه څوک چې تجارتي معاملات په خپل نامه او د معاملې د خاوند(آمر) په حساب د يو اجرت په مقابل کې د عادي کسب په حيث اجراء کوي(کمېشن کار) او هغه مقاوله چې د خاوند او کمېش کار ترمنځ تړل کيږي دکميشن کاري مقاوله بلل کيږي. (هماغه، ۷۸۲ماده.)

126 . (۴) ګڼه لمنليک ته دې مراجعه وشي. سيدعبدالبصيرحسيني، م ۹۰.

(c) ketabton.com: The Digital Library

یو کال تاکل شوی دي.[127]

3) د هوټلونو او رستورانټونو د مالکانو د حقوقو پورې اړوند دعواوو کې د هغوئ د شپې پاتې کېدو، د ډوډۍ قیمت او نورو مصارفو ته په کتلو سره یو کال مرور زمان موده ټاکل شوې ده.[128]

4) د کارګر، مستخدم او اجیر حقوقو پورې مربوط دعواوو کې، اجورې ته په کتلو سره د مرور زمان نېټه یو کال ټاکل شوې ده.[129]

پدې اړه د مدني قانون ۹۶۷ماده داسې صراحت لري: « په راتلونکو حقوقوو کې د یو کال وروسته دعوی د اوریدلو وړ نه ده:

1. د طبیب، استاذ، مدافع وکیل، او د مهندس حقوق چې د وظیفې د سرته رسولو څخه راپیدا شوي وي، په عمومي ډول هر شخص چې ازاد کار او بار ولري لکه، درمل پلرونکی، دلال، کمېشن کار او اهل خبره(پوهان).
2. د تاجر، او کسب کوونکي، هغه حقوق چې شیان یې خلکو ته وارد او یا هم صادر کړي وي، او پدې شیانو کې تجارت نه کوي.
3. د هوټلونو د خاوندانو د رستورانتونو حقوق د شپې اوسیدلو او د طعام او نور مصارفو ته په مقابل کې.
4. د کارګر، مستخدم او اجیر حقوق چې د ورځنۍ او یا غیرورځنۍ اجورې څخه راپیداشوي وي.[130]
5. د کار قرارداد څخه رامنځته شوي دعوی کې.[131] پدې د مدني قانون ۱۵۵۳ماده کې هم صراحت شتون لري: « کومې دعوې چې د کار عقد څخه پیدا شوي وي، دعقد دپای ته رسیدو څخه یو کال وروسته نه اوریدل کیږي.»[132]

---

[127]. هماغه.

[128] . هماغه.

[129] . هماغه، م ۹۲.

[130]. (۲۵) ګڼه لمنلیک ته دې مراجعه وشي. د افغانستان مدني قانون، ۹۶۷ماده.

[131] . (۴) ګڼه لمنلیک ته دې مراجعه وشي. سیدعبدالبصیر حسیني، م ۹۲.

[132] . هماغه، د افغانستان مدني قانون، ۳ج، ۱۵۵۳ماده.

(c) ketabton.com: The Digital Library

## څلورم مبحث: د مدني مرور زمان د پيل نېټه

په کُلي ډول د مدني قانون ۳۷مادې مطابق، په دينونو کې مرور زمان يعنې د حق د دعوى ساقطوونکي مرور زمان کې ؛ د مودې تېريدل د حق د مطالبې له نېټې څخه پيلېږي. پدې اساس، په شرط پورې معلق قرض په مورد کې د شرط له تحقق څخه، د ضمان د استحقاق په مورد کې د استحقاق د تثبيت له وخت څخه، او په مؤجل دين کې د ټاکل شوي وخت له تېريدو وروسته مرور زمان نېټه شروع کيږي.[133]

که چيرته، د دين د ورکړې نېټه د دائن تر ارادې پورې موقوفه وي؛ نو کله چې دائن د خپل ارادې اظهار باندې قادر شي له همغه وخت څخه د مرور زمان موده شروع کيږي. [134] پدې اړه د مدني قانون ۹۷۳ ماده کې داسې صراحت شتون لري: « (۱) ددعوې د نه منلو ټاکلې موده د پور د اداْ کولو د استحقاق له نېټې څخه پيلېږي. (۲) د دعوي د نه منلو ټاکلې د هغې پور په باره چې شرط پورې معلق وي،د شرط د تحقق له نېټې څخه،د ضمان د استحقاق په باره کې د استحقاق د ثابتيدو د نېټې څخه، او د مؤجل پور په باره کې د مودې د تېريدو له نېټې څخه شروع کيږي.»[135]

همدارنګه، د مدني قانون ۹۷۴مادې مطابق د مالياتو پورې مربوط دعواوو کې مرور زمان د استحقاق له نېټې څخه، او همدارنګه بل چاته ورکړل شويو مالياتو او محصولاتو پورې دعواوو کې د پرداخت يا د ورکړې له وخت څخه، مرور زمان شروع کيږي. همدارنګه د قضايي اوراقو د قيمت په مورد کې، د هغه دعوې د ختميدو له وخت څخه چې، دغه اوراق د هغه په مورد کې ليکل شوي دي، او په هغه صورت کې چې دعوى اقامه نشي، د اوراقو د ليکنې له وخت څخه؛ مرور زمان شروع کيږي.[136]

همدا ډول، د مدني قانون ۹۷۰ مادې مطابق، په ۹۶۷ ماده کې راغلي يو کلن مرور زمان شروع ورسپارل شوې وظيفې له پای ته رسيدو سره پيلېږي.[137] ورسره، د تجارت قانون مطابق د بيمې په قرارداد کې د مرور زمان شروع د اختلاف د واقع کيدو له نېټې څخه[138]، همدارنګه، د کار قرارداد څخه رامنځته شوي دعوې کې د مرور زمان د قرارداد له پای ته رسيدو سره سم پيلېږي.[139]

په اموالو پورې اړوند مرور زمان کې، په مال باندې د حيازت د استيلاء له وخت څخه مرور زمان

---

133 . هماغه، سيدعبدالبصيرحسيني، م ۹۲.

134 . هماغه.

135 . هماغه، د افغانستان مدني قانون، ۹۷۳ماده.

136 . هماغه، سيدعبدالبصيرحسيني، م ۹۳.

137 . (۲۵) ګڼه لمنليک ته دې مراجعه وشي. د افغانستان مدني قانون، ۲ج، ماده ۹۷۰(۱).

138 . (۱۵) ګڼه لمنليک ته دې مراجعه وشي. د افغانستان د تجارت اصولنامه، ۹۴۲ماده.

139 . هماغه، د افغانستان مدني قانون، ۱۵۵۳ماده.

(c) ketabton.com: The Digital Library

شروع کیږي. [140] د مدني قانون ۲۲۵۸مادې صراحت مطابق، په هغه صورت کې چې حیازت له اکراه، یا په پټه او یا هم له التباس سره صورت نیولی وي، د مرور زمان نېټه مذکورو عیوبو له لرې کیدو سره سم شروع کیږي.[141]

## پنځم مبحث: د مدني مرور زمان د تعلیق(ځنډیدو) عوامل

د دعوي د حق ساقطونکی مرور زمان کې، د تعلیق عوامل عبارت دي له، د قانوني عذر، معنوي مانع او هغه موانع چې د دائن حق غیر ممکن کړي. [142] د مدني قانون ۹۷۵ مادې مطابق، «(۱) ددعوې د نه منلو ټاکلې موده په قانوني عذر، معنوي موانعو او په داسې مانع چې د پور ورکونکي دحق غوښتنه محاله کړي، متوقف کیږي. (۲) کومه موده چې د عذر سره تېره شوې ده، اعتبار نلري.»[143]
قانوني معاذیر د مدني قانون ۲۲۸۱مادې مطابق، عبارت دي له: غیابت، صغر په هغه صورت کې د مدعي ولي، وصي او قیم موجود نه وي. ورسره د اموالو مرور زمان کې هم د ۲۲۸۶مادې مطابق داسې صراحت وجود لري: « د حق کسبوونکي زمانې د تېریدو موده چې هر څومره وي، د موجبه سببونو د موجودیت سره متوقف کیږي.»[144] ددغه نوعه مرور زمان د تعلیق اسباب هم ددعوې د ساقط کوونکي مرور زمان عذرونه دي. [145]

## شپږم مبحث: د مدني مرور زمان د قطع کیدو عوامل

د فرانسې مدني قانون ۲۲۴۲مادې له مخې د مرور زمان د قطعې عوالم دوه ډوله دي: طبیعي او قانون عوامل.[146] دافغانستان مدني قانون کې لکه د فرانسې په شان، په صراحت سره تقسیم بندي شتون نلري، مګر له مختلفو مادو څخه همدغه تقسیم بندي استخراج کیږي. د مرور زمان طبیعي قطع لکه: د فرانسې حقوقو پشان هغه وخت کې صورت نیسي، چې حیازت کوونکي، په یو کال څخه کمه موده کې، د هغه له ارادې څخه خارجو موانعو په سبب حتی که د فعل په واسطه هم وي، د حیازت په مورد

---

[140] . هماغه، سیدعبدالبصیرحسیني، م ۹۳.
[141] . هماغه، د افغانستان مدني قانون، ۲۲۵۸ماده.
[142] . هماغه، سیدعبدالبصیرحسیني،م ۹۳.
[143] . هماغه، د افغانستان مدني قانون، ماده ۹۷۵(۱)(۲).
[144]. هماغه، ۲۲۸۶ماده.
[145] . (۴) ګڼه لمنلیک ته دې مراجعه وشي. سیدعبدالبصیرحسیني، م ۹۳.
[146] . (Prescription may be interrupted either naturally or according to law.) ((French, Civil Code (1827). art: 2242.)

(c) ketabton.com: The Digital Library

مال څخه محروم شي. بغیر لدې چې وکولی شي ددغه مودې په دننه کې دویم ځل لپاره په هغه مال مسلط شي، او یا یې د استرداد لپاره دعوی اقامه کړي؛ پداسې ډول چې، د هغه نتیجه نورو لپاره یو نوې حیازت ښکاره شي.[147] پدې اړه د مدني قانون ۲۲۶۸[148]، ۲۲۶۷[149] او ۲۲۸۷ [150]مادو څخه دغه موارد استناط کیږي.[151]

د مرور زمان د قانوني قطعې عوامل عبارت دي له، له حیازت څخه د حیازت کوونکي انصراف د حق مدعي ته صریح یا ضمني اقرار[152] د هغه شخص په واسطه په مرور زمان استناد کوي، په غیر صالحه محکمه کې قضایي مطالبه، حجز لپاره اخطار او داسې نور... [153]

پدې اړه مدني قانون ۹۷۷ او ۹۷۸ مادې داسې صراحت لري: « ۹۷۷ماده: د دعواوو نه اوریدلو ټاکلې موده په قضایي غوښتنې که څه هم دعوی غیر اختصاصي محکمې ته وړاندې شوی وي، په خبرتیا، حجز، یا دهغې د غوښتنې په اثر چې پور ورکونکی یې په افلاس یا توزیع کې د خپل حق د قبلولو لپاره وړاندې کوي. همدارنګه په هر عمل کې چې پور ورکونکی د کومې دعوې جریآن په وخت کې پخپل حق تمسک وکړي، قطع کیږي. همدارنګه ۹۷۸ماده بیا داسې صراحت لري: (۱) که پوروړی د پور ورکونکی په حق په صراحت یا په دلالت اقرار وکړي، ددعوی د نه اوریدلو ټاکلې موده قطع کیږي. (۲) که پوروړي د پور د ادأ کولو د تأمین د پاره د ګروي په توګه پور ورکونکي ته څه مال ورکړي، نو د پوروړي په اقرار دلالت وکړي.»[154]

د مرور زمان له قطع کیدو وروسته، د قطع کوونکي عامل له منځه تللو وروسته، نوی مرور زمان شروع

---

[147] . هماغه، سیدعبدالبصیرحسیني، م ۹۴.

[148] . «(۱) که د عقار حیازت له لاسه ورکړي نو کولی شي چې د حیازت له لاسه ورکولو د نېټې څخه د یوه کال په اوږدو کې د هغې دبیرته ردولو غوښتنه وکړي. که د حیازت نشتوالي په پټه شوي وي نو د کال پیل د هغې نېټې څخه شروع کیږي چې د حیازت نشتوالی کشف کړي.
(۲) که څوک د بل چا په نیابت سره حیازت په لاس کې ولري، هغه هم کولی شي چې د حیازت د ردولو غوښتنه وکړي.»
(هماغه، د افغانستان مدني قانون، ۲۲۶۸ماده).

[149] . «حیازت د مؤقتې مانع په سبب د منځه نه ځي مګر دا چې ذکر شوی مانع پوره یو کال دوام وکړي او دنوي حیازت څخه پیداشوی او دا نوی حیازت د حایز د ارادې په خلاف یا بې د هغه د علم څخه واقع شوی وي، کال دهغې وخته څخه پیل کیږي چې په کې نوی حیازت په علني توګه پیل شوی وي، که حیازت په پټه واقع شوي وي نو کال دهغې نېټې څخه پیل کیږي چې لومړني حایز ورباندې علم پیدا کړي وي.» (هماغه، ۲۲۶۷ماده).

[150] . « که حایز د خپل حیازت څخه منصرف شو او یایې هغه د لاسه ورکړو که څه هم د بل چا په فعل وي، نو د حق کسبوونکي زمانې د تېریدو موده قطع کیږي مګر دا چې حایز د یوه کال په اوږدو کې د هغې نېټې څخه په حیازت قطع شوی، خپل حیازت بیرته مسترد کړي یا دا چې د هغې دبیرته ردولو په باره کې د همدې مودې په اوږدو کې دعوی اقامه کړي. » (هماغه، ۲۲۸۷ماده).

[151] . هماغه.

[152] . ضمني اقرار لکه: مدیون، ددین د ادأ کولو لپاره له دائن سره یې رهن هم وکړي.

[153] . هماغه، سیدعبدالبصیرحسیني، م ۹۳.

[154] . (۲۵) ګڼه لمنلیک ته دې مراجعه وشي. د افغانستان مدني قانون، ۹۷۷-۹۷۸ ماده.

(c) ketabton.com: The Digital Library

کيږي او موده يې هم هماغه تېره شوې موده ده، په استثنأ د مواردو کې چې مرور زمان ورته يو کال ټاکل شوی وي او د مديون د اقرار په سبب قطع شي.[155] چې پدې صورت کې د مدني قانون ۹۷۹ مادې مطابق يو نوی مهلت ددعوې د اوريدلو لپاره پّه هماغه موضوع کې ۱۵کاله ده.[156]

## اووم مبحث: د مدني مرور زمان اثار

مدني مرور زمان عموما لاندې اثار لري:

لومړی مطلب: د مدني قانون ۹۸۱مادې مطابق، محکمه نشي کولې چې رأسا د مرور زمان په استناد دعوې ته له رسيده ګي څخه امتناع وکړي، بلکې دا بايد د هر هغه کس لخوا چې په مرور زمان باندې تمسک کوي او مرور زمان د هغه په نفعه وي، محکمې څخه يې بايد تقاضا کړې وي.[157]

دويم مطلب: هماغه ماده دا تصريح لري چې، مرور زمان د محاکمې په هره مرحله کې ممکن دی حتې په استناف مرحله کې هم. پدې اړه د مدني قانون ۹۸۱ مادې دويمه فقره داسې صراحت لري: (۲) د زمانې په تيريدو تمسک د دعوی په هره مرحله کې جواز لري، که څه هم د استناف د محکمې د وړاندې وي.[158]

دريم مطلب: د مدني قانون ۹۸۲مادې[159] مطابق، د حق خاوند په هغه صورت کې چې په خپلو اموالو کې د تصرف صلاحيت ولري، کولی شي په مرور زمان باندې استناد حق له ثبوت وروسته، له دغه حق څخه تېر شي، دغه انصراف د نورو دائنينو په حق کې اثر نلري.[160]

څلورم مطلب: د تېرې مادې مطابق، ددعوی طرفين يا لوري نشي کولی چې هغه مودې په خلاف کې چې قانون ټاکلی دی، توافق تر سره کړي.[161]

پنځم مطلب: د مدني قانون ۸۸۶ مادې مطابق، هر کله چې دين، دڅو نفرو څخه د يو په مورد کې په تضامني توګه مديون وي، په مرور زمان لاندې راشي، نور مديونين يوزاې د مديون د سهم په اندازه

---

[155] . هماغه، سيدعبدالبصيرحسيني، م ۹۴.

[156] . هماغه، د افغانستان مدني قانون، ۹۷۹ماده.

[157] . هماغه، سيدعبدالبصيرحسيني، م ۹۴.

[158] . هماغه، د افغانستان مدني قانون، ۹۸۱ماده.

[159] . ۹۸۲ماده: « که څوک پخپلو حقوقو کې د تصرف کولو قدرت ولري، نو کولی شي چې په هغې کې د خپل حق ثابتولو وروسته د زمانې د دفعې له حق څخه انصراف وکړي که څه هم په دلالت وي، خو سره ددې هم دا انصراف د نورو پور ورکونکوپه حق کې چې ورڅخه متضرر کيږي، نافذ نه ګڼل کيږي. (هماغه، ۹۸۲ماده(۲).

[160] . (۴) ګڼه لمنليک ته دې مراجعه وشي. سيدعبدالبصيرحسينی، م ۹۴.

[161] . هماغه، م ۹۴.

(c) ketabton.com: The Digital Library

کولی شي چې په مرور زمان استناد وکړي. همدې توګه، که دين تړول د مرو ر زمان لاندې راشي، په هغه صورت کې د مرور زمان جريان د يو مديون په هکله قطع يا تعليق شي. دائن نشي کولی د نورو مديونينو په مقابل کې په دغه قطع او تعليق استناد وکړي.[162]

[162] . هماغه، م ۹۴.

(c) ketabton.com: The Digital Library

# پـــايلـــه

مدني موضوعاتو کې د مرور زمان په اړه هم اسلامی فقه او هم د افغانستان مدني قانون مباحث لري. چې په اسلامي فقه کې د حق په اصل باندې موثر مرور زمان نه دی قبول شوی، يعنې که يو شخص د محکمې په وړاندې په خپل حق اقرار وکړي، اقرار د قبول وړ ده. مګر د دعوی د حق ساقطوونکی مرور زمان د فقهاو د دلايلو او سلطان د حکم په اساس قبول شوی دی، چې موده يې عموما ۱۵ کاله ټاکل شوې ده. مګر، د ځانګړو موضوعاتو لپاره لکه: د وقف متولي دعوی لپاره ۳۶ کاله،د خاصې لارې، ارتفاق، او شرب حقونو لپاره ۱۵کاله د مرور زمان نېټه ټاکل شوې ده. همدارنګه، په عام المنفعه ملکيتونو پورې اړوند دعوی بيا د مرور زمان مشموله نه ګڼل کيږي.

د افغانستان مدني او تجارت قانون کې هم د مدني مرور زمان عمومي نېټه ۱۵کاله ټاکل شوې ده، مګر، ځانګړو مواردو لکه: استمراري، نوي کيدونکي حقوق لکه، دکورونو کرايه، د ځمکو اجاره، معاشونو، مالياتو او محصولاتو په اړوند ۵ کاله، د بيمې قرار اړوند دوه(۲) کاله، استاذ، ډاکټر، مدافع وکيل، مهندس له دندې راپيدا شوو دعواو کې، او په کُلي ډول د هر هغه شخص چې ازاد کار او بار ولري لکه، درمل پلورنکی، دلال، کمېشن کار او نور...هغه پورې مربوط دعواوو کې يو کال د مرور زمان نېټه ټاکل شوې ده.

(c) ketabton.com: The Digital Library

# وړاندیزونه

1. د افغانستان په مدني قانون کې د مدني مرور زمان لپاره کوم مشخص تعریف شتون نه لري؛ بناء، یو مشخص او ټولمنلی تعریف ورته وشي.
2. دا چې په وروستیو لسیزو کې زموږ هېواد کې د جګړو له امله ډېرې خلک بې ځایه شوي دي؛ نو بناء په محاکمو کې پدې اړوند د قضایاوو تراکم د مخنیوي لپاره دغه موده زیاته شي.
3. د مدني مرور زمان لپاره باید مشخص معیارونه وټاکل شي. یعنې د کومو معیارونو په پوره کیدو سره یوه دعوی د مرور زمان لاندې راځي.
4. همدارنګه، د مفقود ددعوی د اوریدلو اړوند په قانون کې هېڅ یادونه شتون نه لري، چې ایا دا یو عذر ګڼل کیږي او کنه؟ نو باید په دې اړوند په مدني قانون کې یادونه وشي.
5. د افغانستان په مدني قانون کې د استاذ، ډاکټر او مدافع وکیل د دندو څخه راپید شویو دعواو لپاره د مرور زمان وخت یو کال ټاکل شوی دی. مګر، که موږ وګورو، یاد مسلکونه تر ډېره د مصروفیت څخه ډک وي؛ نو بناء، یاده موده باید ورته ډېره شي او یوه مناسبه موده ورته وټاکل شي، تر څو پورته درې کټه ګورې اشخاص خپلو دعواوو ته په ښه شکل رسیده ګي وکړي.

(c) ketabton.com: The Digital Library

# ماخذونه


1. القران الکریم
2. کابلي تفسیر، لومړی جلد.


# قوانین


1. د مصر مدني قانون، د لاسرسي لینک: http://arbooks.tk.
2. د افغانستان اسلامي جمهوریت د تجارت اصولنامه(۱۳۶۷ل). رسمي جریده ۶۷۶.
3. د افغانستان اسلامي جمهوریت مدني قانون(۱۳۵۵ل). رسمي جریده ۳۵۳.
4. French, Civil Code (1827).


# حقوقي او فقهي کتابونه


1. السرخسي، شمس الدین (۱۴۰۶هـ). الاصول السرخسي، القاهره، مصطفی البابي الحلبي مطبعه.
2. امین، شریف الله (۱۳۹۷ل). د وجایبو حقوق، مسلم خپرندویه ټولنه، جلال اباد.
3. الموسوعة الفقیة الکویتیه(۱۹۸۶م ). وزارت الاوقاف والشون الاسلامیة الکویت، طبع ذات السلاسل.
4. دانش، حفیظ الله (۱۳۹۶ل). د وجایبو حقوق، کابل، مستقبل خپرندویه ټولنه.
5. د کابل پوهنتون(۱۳۸۷ل). د حقوقي اصطلاحاتو قاموس.
6. حسیني، سید عبدالبصیر (۱۳۹۱هـ.ش). مدني مرور زمان د اسلامی فقهې او د افغانستان قوانینو له نظره، د عدالت مجلة، ۱۱۱ګڼه.
7. عمید، حسین (۱۳۸۹ل). فرهنګ عمید، انتشارات راه رشد.
8. لبناني، سلیم رستم باز (۲۰۱۶). توضیح المرام پښتو شرح د مجلة الاحکام، ژباړن: مولانا برهان الدین صدیقي، پشارو، جدید مکتبه رشیدیة.
9. فضلي، فضل هادي (۱۳۹۸ل). عیني حقوق، د یارخپرندویه ټولنه، جلال اباد.
10. صافی، شمس الاسلام شمس (۱۳۹۹ل). د مدني محاکماتو اصول، جلال اباد، مسلم

(c) ketabton.com: The Digital Library

خپرندويه ټولنه.
11. صافی، شمس الاسلام شمس (۱۳۹۰ل). د عدلي او قضايي اجرءاتو لاربښود، جلال اباد، مسلم خپرندويه ټولنه.
12. لنګرودی، محمد جعفر جعفري (۱۳۸۱ل). مبسوط در ترمينولوژي حقوق، تهران. کتابخانه ګنج دانش.
13. ستانکزی، نصر الله ، شيرعلي امن، ولي محمد ناصح(۱۳۸۸ل). اصول محاکمات تجارتي، مطبعه طباعتي حبيب الله حسيب، کابل.
14. محمد امين ابن عابدين بن عمر بن عبدالعزيز (۱۳۰۵هـ). حاشية رد المختار على الدرالمختار، القاهره، مصطفى البابي الحلبي مطبعه، ج ۵.

## انټرنېټي مقالې

1. صادقي، سهند ، حسين صابري، کريم عبدالحی نژاد(۱۳۹۷ل). راويې اسقاط حق دعوی، فقه و اصول، (۱) ګڼه.
2. حامد، محمد عبدالرحمن(۱۹۷۶ل). نظرية عدم السماع الدعوى للتقادم بين الشريعة و القانون، الرسالة الدوكتورا، كلية الشريعة والقانون، القاهره.دلاسرسي لينک: http://iefpedia.com/arab/wp-content/uploads/2009/09/%D8%A3%D8%AD%D9%83%D8%A7%D9%85-%D8%A7%D9%84%D8%AA%D9%82%D8%A7%D8%AF%D9%85-%D9%81%D9%8A-%D8%A7%D9%84%D9%81%D9%82%D9%87-%D8%A7%D9%84%D8%A5%D8%B3%D9%84%D8%A7%D9%85%D9%8A-%D8%AF.%D9%85%D8%AD%D9%85%D8%AF-%D8%A3%D8%AD%D9%85%D8%AF-%D8%AD%D8%B3%D9%86-%D8%A5%D8%A8%D8%B1%D8%A7%D9%87%D9%8A%D9%85.pdf
3. en.m.wikipedia.org.

**Get more e-books from www.ketabton.com**
**Ketabton.com: The Digital Library**